# د تریتون نسلونه او ډولونه

# Genus and Species of Newts


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک يې د خپرولو، تر بل په هر شکل کې د رسولو او چاپ کولو اجازه لري.

ژباړونکی : زکریا رحیمي

فیسبوک : https://www.facebook.com/zaki.rahi.56

ویبپاڼه : https://rahimiz.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تریتون
# Newt

تریتون په پلوروډېلیني فرعي کورنۍ کې دوه ژواکي لټکه ده. په کوچنیوالي کې په ځمکه ژوند کوي او دې پړاو ته یې اېفټ نوم اخلي. د سالاماندرېدای کورنۍ د نورو دوه ژواکو لټکو په څېر تریتون هم نیمه په اوبو کې ژوند کوونکی دی. ټولې دوه ژواکه لټکې تریتون نه ګڼل کیږي. په اروپا، شمالي امریکا، شمالي افریقا او اسیا کې یې تر ۱۰۰ زیات ډولونه پیژندل شوي او مطالعه شوي. بدن یې درې پړاونو کې بدلون مومي : لمړی پړاو یې اوبو کې لاروا پړاو دی، په وچه کې اېفټ پړاو دی، بلوغ یا بشپړ ودې ته رسېدلی تریتون دی. بشپړ ودې ته رسېدلی تریتون کربوړي ته ورته والی لري. هر کال له وچې بېرته اوبو ته د مثل د تولید لپاره تګ کوي. که چېرې یې د مثل د تولید موده نه وي نو داسې سیمه کې ژوند کول خوښوي کوم چې لوندوالی لري او ګیا پوښلی وي .

نسلونه یې ککړتیا، د ژوند لپاره د چاپېریال ویجاړېدو له ګواښ سره مخ کړي دي. د ډېرو ډولونو غړي یې ډېر کم پاتي او د یونان بند ډول یې له منځه تللی.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېدای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |

# سا اخیستنه

بشپړ ودې ته د رسېدلي تاج لرونکي تریتون تنفسي سیستم مطالعه شوی : تاج لرونکی تریتون د پوستکي له لارې سا اخلي خو د سا اخیستنې لپاره د غومبوري جوف او سږي هم کاروي. کله چې اوبو کې اکیسجن کم وي، خواړه خوري، د مثل تولید کوي نو سا اخیستنه په سږو کوي .
د هایپوکسیا یا نسجونو ته د اکسیجن د نه رسېدو حالت کې زخیره شوي ایریتروسیت یا د وینې سرې حجرې پرېږي او له دې لارې نسجونو ته اکسیجن رسوي .
توری د ډېری شمزي لرونکو په ګېډه کې غړی وي د بدن د ایمني سیستم برخه ګڼل کیږي او د وینې حجرې تولیدوي. که چېرې تودوخه کمه شي نو د توري کچه کې یې غټوالی رامنځته کیږي. په لارواې کې یې د توري کچه بدلون نه مومي .
د ژمي د خوب پر مهال یې د ینې د رنګداني حجرې زیاتیږي او دا چاره د اکسیجن د زخیره کولو وړتیا ورکوي، همداسې د اړینو رادیکالونو او ایونونو په زخیره کې هم خپل اړین رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وینې دوران

په انګرېزۍ کې د زړه پاسه برخه کې جوفونو ته (atrium) نوم اخلي جمع یې (atria or atriums) لیکل کیږي. د زړه لاندې برخه کې جوفونو ته (ventricle) نوم کارېږي. د تریتون په زړه کې لکه د ډېرې دوه ژواکو په څېر درې جوفونه موجود وي : دوه پاسه برخه کې وي او یو جوف لاندې برخه کې وي. له وروستي او مخکیني کاوال وریدونو د زړه پاسني ښي جوف ته وینه بهیږي. کومه وینه چې د زړه د پاسه برخې کیڼ جوف ته داخلیږي وروسته له لاندې جوف بهر وېستل کیږي. تریتون د زړه لاندې جوف کې کورونري یا زړه او عضلو ته د اکسیجن لرونکې وینې انتقالونکي رګونه نه لري. که چېرې د تریتون د زړه لاندې جوف کې سورى رامنځته شي نو زړه کې یې یو تونل موجود وي او د همدې تونل په زریعه وینه ښکته کېدونکي اې اورتا ته هدایت کوي. په زړه کې سوری شوی لاندینی جوف د اپپي کاردیال طبقې کوم ته چې پېري کاردیام یا پېري کاردیال کیسه نوم هم اخلي په ډبلېدو یې بېرته بندوي. د همدې برخې بهر ته وتل د نوو رګونو وده ممکن کوي. که چېرې یې وینه کمه شي نو د اکسیجن اخیستلو لپاره د وینې حجرو ته اړتیا نه لري. په یو ډول کې یې کله چې د وینې کموالی پیدا شي نو له دوه اونیو وروسته پکې د حجرو غنچه تولیدیږي کومه چې موجودې د وینې سرې حجرې بېرته د اکسیجن انتقال ته چمتو کوي.

## اوزمورېګولېشن

د ایټالیا تاج لرونکی تریتون د ژمي په میاشتو کې د وینې دوران کې پرولکټین پربېږدي، دا چاره یاد تریتون د اوبو چاپېریال ته په تلو اړ کوي او د سودیم د ایونونو فعال ټرانسپورټ کموي. پرولکټین یې بدن ته د پوستکي له لارې د اوبو جذب کموي. همداسې د اوړي په میاشتو کې واسو ټوکسین ترشح کوي کوم چې د پوستکي له لارې د اوبو جذب زیاتونه کې مرسته کوي. ارجینین واسو ټوکسین یوازې د پوستکي له لارې د اوبو د جذب په زیاتېدو کې مرسته نه کوي بلکې په پوستکي کې یې د وینې دوران هم لوړوي .

په ختیځ تریتون باندې تجربه شوې، تجربه کې یې د بدن اوبه کمې کړل شوي او پایله کې یې د بدن موټور سیستم له کاره لوېدلی وو په دې مانا چې
خوځښت یې نشو کولای ؛ که چېرې اوبو کې د ژوند پړاو ولري او بدن یې ۲۲ % اوبه کمې کړي نو بدن سیده نشي ساتلی او خوځښت نشي کولای. که چېرې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوونکي تریتون بدن تر ۳۰ % پورې اوبه کمې کړي نو موټور سیستم یې له کاره لویږي. همداسې کوم تریتون چې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوي د هغو تریتون په پرتله یې بدن اوبه ډېرې ژر کموي کوم چې اوبو کې ژوند کوي. خو همداسې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوونکی د هغه تریتون په پرتله کوم چې اوبو کې ژوند کوي ۵ ځلې ژر د خپل بدن اوبه پوره کوي.

## د نوم ریښه

د پښتو تریتون نوم یې فرانسویان هم کاروي. تریتون په یوناني افسانو کې د سمندر خدای دی، د پوسیدون او امفیتریت خدای او خدایې زوی دی. شکل یې همدې ژو ته ورته والی لري. تریتون نوم هسپانویان، روسان، رومانیا، بلغاریا او ځینې نورو هیوادونو کې هم دې ژو ته کارېږي. جرمني یې بیا نوم له یونانی او لاتیني خپل کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه انګریزۍ کې يې نومونه (efte, efeta) وو او د نومونو ريښه يې نه وه مالومه. په منځنۍ انګریزۍ کې له همدې نومونو (eft) جوړ شو همداسې يې املا مختلف شکلونه (euft, evete, or ewte)تر پنځلسمې پېړۍ پورې لرل. لکه څرنګه يې چې نوم په غړ لرونکې توري پيل کيږي نو انګریزۍ کې (an eft) ليکل کېده او وروسته يې له همدې اېن واخيسته او ډېرو خلکو (a n'eft) ليکه. نيوټ نوم يې د سټفورډ شېر سيمې سيمه ايز نوم دی او عصري معياري انګریزۍ ته داخل شوی. شکسپير هم په مېک بېت کې کارولی .

په اوسنۍ عصري انګریزۍ کې يې بشپړ ودې ته رسېدلی په نيوټ (newt) نوم يادوي، کوم چې لاروا پړاو پای ته رسولی وي او له اوبو بهر راوتلي وي د اېفټ (eft) نوم ورته کارېږي او لاروا کوم چې اوبو کې ژوند کوي ډېری خلک يې د اوبو اېفټ (water eft) ګڼي.



# د ژوند لپاره چاپېريال

تريتون په اسيا، اروپا، شمالي افريقا او شمالي امريکا کې پيدا کيږي. د ارام سمندر د تريتون نسل او د ختيځ تريتون نسل کې ۷ ډولونه شامل دي او په شمالي امريکا کې پيدا کيږي. تر ټولو زيات ډولونه يې زړې نړۍ (اروپا اواسيا) کې موجود دي. په اروپا او منځني ختيځ کې يې ۸ نسلونه ژوند کوي، په دې ۸ نسلونو کې تقريبا ۳۰ ډولونه شامل دي. پوښتۍ لرونکی تريتون تر شمالي افريقا پورې خپرې شوي. همداسې تر ۴۰ پورې ډولونه يې په ختيځه اسيا کې له ختيځ هند نيولې تر اېندو چين او تر چاپان پورې سيمه کې ژوند کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تریتون نیمه په اوبو کې ژوند کوونکي دي او د کال یوه برخه په اوبو کې د مثل د تولید لپاره تېروي او پاتي برخه په وچه کې مېشت وي. ډېری ډولونه یې د مثل د تولید لپاره ډنډونه، لښتي او درېدلي باراني اوبه خوښوي خو ځیني ډولونه یې په روانو اوبو کې هم د مثل تولید کوي. د اروپا ځینو ډولونو یې په اکسیجن غني سړو روانو اوبو کې هم بلدتیا پیدا کړې. کله چې له اوبو بهر راوځي لنده سیمه خوښوي چېرې چې په اسانی د پټېدو لپاره پناه ځای موندلی شي.

## ځانګړنې

کوم کیمیاوي مواد چې په نورو ژو کې د تومور د ودې لامل کیږي په تریتون کې د زیان لیدلي غړي د بېرته ودې لامل کیږي. تریتون له ځینې دوه ژواکو لټکو سره ډېرې ګډې ځانګړنې لري، په دې ځانګړنو کې نیمه د اوبو ضد د مرغړیو لرونکی پوستکی، د ورته کچې د تنې څلور غړي شامل دي. د تریتون پوستکی لکه د دوه ژواکو په څېر هوار او نرم نه وي. که چېرې یې پوستکی ټپ ووینې او یا یې د تنې غړی زیان ووینې د رغېدو وړتیا لري.

## د مثل تولید

د تریتون د ډولونو لپاره د مثل د تولید ځانګړې موده، د نړۍ په شمالي نیمه کره کې، په جون او جولای میاشتو کې ده. یوازې یو تریتون تر سلګونو هګۍ اچوي. د بېلګې په توګه زخي لرونکی تریتون له ۲۰۰ تر ۳۰۰ پورې هګۍ اچوي. له پېچلي چلند وروسته په ډنډونو یا ورو روانو اوبو کې نر خپل سپرم ښځې ته انتقالوي او د ښځې په داخل کې یې القاح ترسره کیږي. د چونګښو برعکس کومې چې خپلې هګۍ د غنچې په توګه اچوي او ازادې یې پرېږدي تریتون القاح شوې هګۍ په یو ځای نه اچوي بلکې یوه یوه هګۍ اچوي او په اوبو کې یې بوټو پسې نښلوي .

واړه لاروا بچیان یې د کب له هګیو تازه پیدا شوو بچیانو ته ورته والی لري، یوازینی توپیر یې بڼکې ته ورته برانشونه لرل دي. هګۍ یې تقریبا په درې اونیو کې شاربل کیږي او لاروا بچیان تر چونیږي. د لاروا بچیانو خواړه یې الګې، واړه بې شمزي او د نورو ژو لاروا بچیان دي. په څو میاشتو کې یې بدن بدلون مومي، تنه کې یې پښې وده کوي، برانشونه یې بېرته جذب کیږي او په سږو بدلیږي. د تریتون ځینې ډولونه لکه د شمالي امریکا تریتون په دې پړاو کې روښانه رنګ هم پوستکي کې اضافه کوي. کله چې بدلون پای ته ورسیږي اوبه پرېږدي او په وچه کې ژوند پیل کوي. په وچه کې کله چې د ابفتې پړاو پای ته ورسیږي نو بشپړ ودې ته رسېدلی تریتون ترې جوړیږي، د شمالي امریکا تریتون بېرته اوبو ته د ژوند کولو لپاره ګرځي خو نور ډولونه یې یوازې د مثل تولید موده کې بېرته اوبو ته تګ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زهرجنتوب

د دفاع دمېکانېزم په توګه د تریتون پوستکی زهر ترشح کوي. پوښتی لرونکی تریتون بیا د انسان وژلو لپاره کافي ټېټرو ډو ټوکسین تولیدوي. د ارام سمندر د تریتون ځیني ډولونه هغه ژوي مسموموي کوم چې برید پرې کوي. زهر یې واړه ژوي وژلی شي، د سپي تر اندازې ژوي مسموم‌ولای شي او انسان په کانګو راوستلای شي. که چېرې یې زهر د ټپ له لارې بدن ته داخل شي نو ژوند اخیستلای شي. تریتون له چونګښو او نورو دوه ژواکو سره پرته له زیان اړوني په یوه ډنډ کې ژوند کوي، همداسې یې ځیني خلک د کورني ژوي په توګه په پنجرو کې ساتي.

## ډلبندي

په سالاماندریډای کورنۍ کې درې فرعي کورنۍ شاملې دي : یوه یې د تریتون یا نیوټ فرعي کورنۍ ده. تقریبا سل ډولونه لري کوم چې په ۱۶ لاندې یادو شوو نسلونو کې ډلبندي شوي. ځیني مسلکي کسان هیپ سېلو تریتون او لیانګ شان تریتون دوه جلا نسلونه ګڼي خو ټول پرې توافق نه کوي. هیپ سېلو تریتون په سینوپس کې شامل دي او لیانګ شان تریتون په تایلوتو تریتون کې شامل دي .

-کالو تریتون
-سینوپس (هیپ سېلو تریتون هم پکې شامل دي)
-ایکینو تریتون
-ایوپروکتوس
-ایکتیوسورا
-لاو تریتون
-لیسو تریتون
-نیوربرګوس
-نوتوفتالموس
-اوماتوتریتون
-پاکي تریتون
-پارامیسو تریتون


(c) ketabton.com: The Digital Library

-پلیورو دېلېس
-تاریشا یا تاریچا
-تریتوروس
-تایلوتو تریتون (لیانګ شان تریتون هم پکې شامل دي)

فیلو جنتیک

فیلو جنتیک څېړنو موندلي چې د تریتون فرعي کورنۍ د کریتاسیوس له پای تر ایوسین دورې منځ کې سرچینه اخیستې. د دوه ژواکو لټکو ځینې فوسیل ډولونو د پلوروډېلیني فرعي کورنۍ برخه ګڼل کیږي په دې کې لاندې یاد شوي هم شامل دي :
-ارکایو تریتون
-براکي کورموس
-کارپاتو تریتون
-کوالیلا
-پالایو پلورودیلس

د پلورو ډیلیني فرعي کورنۍ ټول نسلونه وروسته له دې چې پایرون او وینز ډلبندي کړل وروسته مایکو هارامو کتنه ورته کړې. ډلبندي یې لاندې انځور کې وګورئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چاپېریال د کیفیت ښودونکي په توګه

تریتون، دوه ژواکه لټکي او نور دوه ژواکي نری او ډېر حساس پوستکی لري. په یوه چاپېریال کې یې شتون او نشتون د چاپېریال د روغتیا ښودنه کوي. که چېرې د اوبو په پي ایچ یا تېزابیت کې او یا هم د هایډروجن د شتون ډېر لږ زیاتوالی هم رامنځته شي د دوه ژواکو ځینې ډولونه ورسره خپل حساسیت ښي. پوستکی یې د اوبو جذب کوونکی دی او له دې لارې اکسیجن، اوبه او نور توکي کومو ته چې اړتیا لري بدن ته جذب کوي. کله چې ساینس پوهان د اوبو د یوې تنې کیفیت ارزوي نو اوبو کې د دوه ژواکو د نسلونو کچه مطالعه کوي.

## دکورني ژوي په توګه

د چین زخي لرونکی تریتون، د چین خالداره ګېډه لرونکی تریتون، د ختیځ تریتون، پایډل ته ورته لکی لرونکی تریتون، جاپانی خالداره ګېډه لرونکی تریتون، تریتوروس، امپراتور تریتون، هسپانوی پوښتی لرونکی تریتون، د سرې لکی پولې یا غوټې لرونکی تریتون د کورنیو ژو په مارکېټ کې پلورل کیږي.

## د نسلونو او ډولونو د غړو شمېر

په شمالي امریکا کې د زیږه پوستکي تریتون او د ختیځ تریتون او په اروپا کې د پوست یا نرم تریتون غړي پرېمانه دي. په نړۍ کې یې غړي له ککړتیا، د ځمکو له وېش او د ژوند لپاره د چاپېریال له ویجاړونې کړېږي. یادې چارې یې په اوبو او وچه کې نسل له ګواښ سره مخ کوي. په اروپا کې د ځنګلونو وهنې او بېرته پکې د نختر ونو کرنې او ککړتیا د ورکېدو له ګواښ سره مخ کړي. په انګلستان کې یې د (Wildlife and Countryside Act 1981 and the Habitat Regulations Act 1994) قانونونه د غړو ساتنه کوي. د تاج یا کاکل لرونکي تریتون نیول، وژل، چاپېریال ویجاړول غیرې قانوني دي، همداسې له جواز لرلو پرته یې لرل هم جرم دی خو دې قانون کې د پراخو پینو لرونکی تریتون او نرم تریتون نه دي شامل خو د ټولو ډولونو پلور د (Wildlife and Countryside Act, 1981) قانون له مخې جرم دی .

په اروپا کې د وحشي ژوند او طبیعي چاپېریال د کنوانسیون د دوېمې ضمیمې له مخې د تریتون د نهو ډولونو قانون په کلکه ساتنه کوي د نور ډولونو ساتنه یې قانون د همدې کنوانسیون د درېمې ضمیمې له مخې کوي .نهه ډولونه یې لاندې یاد شوي :

-کالو تریتون اسپر
-ایوپروکتوس مونتانوس
-ایوپروکتوس پلاتي سیفالوس
-لیسوتریتون ایتالیکوس
-لیسوتریتون مونتاندوني
-تریتوروس کارنیفېکس
-تریتوروس کریستاتوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

-تريتوروس دوبروجيکوس
-تريتوروس کارپلينې

# تريتوروس
# Triturus

تريتوروس د تريتون نسل دی. تاج لرونکي او مرمر تريتون پکې شامل دي. په ټول انګلستان کې، تقريبا ټوله اروپا کې، د سايبيريا تر لرې لوېديځ پورې، اناتوليا يا کوچنۍ اسيا او د کسپين سمندر په سيمه کې پيدا کيږي. مرمر نوم يې شين او تور رنګ کوم چې مرمر ته ورته والی لري رجوع کوي او د تاج لرونکي تريتون نر بيا تېز نسواري رنګ کې وي او د ګېډې رنګ يې له زېړ تر نارنجي پورې خالونه لري، په ملا کې تاج لري او په لکۍ کې يې تاج د مثل د توليد په موده کې وده کوي او نوم يې همدې تاج ته له ورته جوړښت اخيستل شوی .

تاج لرونکی او مرمر تريتون په ګنو وښو لرونکو ډنډونو کې د مثل توليد کوي او په همدې سيمه کې له ښځه تر شپږ مياشتو پورې ژوند کوي. د کال پاتې برخه په سوري يا تياره کې تېروي، داسې سوری چې د مثل د توليد سيمې ته يې نږدې وي او پناه ځايونه پکې پرېمانه وي. نر يې د جوړه کېدو لپاره ځانګړی چلند خپلوي او کله چې خپل سپرم بهر ته پرېږدي ياد چلند پای ته رسوي. وروسته يې ښځه سپرم په خپل مقعد کې په وروستيو پښو داخلوي. کله چې د ښځې په داخل کې القاح ترسره شي نو له ۲۰۰ تر ۴۰۰ پورې هګۍ اچوي. خپله هره هګۍ جلا د اوبو د بوټو په پاڼو پسې نښلوي. لاروای بچيان يې مخکې تر دې چې په وچه کې په ژوند کونکي ځوان بچي بدل شي له درې تر څلورو مياشتو پورې ودې ته ادامه ورکوي .

مخکې دېری د اروپا د تريتون ډولونه په تريتوروس نسل کې ډلبندي شوي وو خو اوسمهال په جلا نسلونو کې جلا ډولونه ګڼل کيږي. تر ټولو ورسره نږدې تړاو لرونکی د اروپا کالوتريتون دی. اوسمهال يې د نسل شمېر د ځمکې د وېش او پلور له امله او د ژوند لپاره د چاپېريال د ويجاړونې له امله په کمېدو دی. د ټولو ډولونو ساتنه قانون کوي او ځينې سيمې حکومتونو ساتلي تر څو په وچه کې د ژوند پړاو او اوبو کې د مثل توليد ته پکې ادامه ورکړای شي.

ډلبندي

په ۱۸۱۵ کال کې په لمړي ځل تريتوروس نسل کانستانتين سموېل تعريف کړی وو. په نسل کې د شمال تاج لرونکی ډول په ساينسي نوم (Triturus cristatus) کې د همدې نسل نوم کارېدلی وو. ياد ډول په ۱۷۶۸ کې جوزېفوس نيکولاوس لورېنټي تشريح کړی او نومولی وو خو ستونزه دا وه چې تر دې لس کاله وړاندې لينياس ياد نوم د سمندري حلزون د يوه نسل لپاره کارولی وو او دلته دا اړينه شوه چې بل نوم نسل ته پيدا کړي .

د شلمې پېړۍ تر پای پورې په تريتوروس نسل کې د اروپايي تريتون ډېری ډولونه ډلبندي شوي وو. کله چې مسلکي کسان وپوهېدل چې خپله کې پولي فيليټيک دی نو بيا يې کتنه ورته وکړه - پولي فيليټيک ګروپ داسې ټولګه ده د کومې چې د تکامل سرچينه خپله کې شريکه وي خو لنډ تېر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ګډ پلرونه نه لري، پولي فیلیتیک اصطلاح تر ډېره داسي ډولونو ته کاریږي چې فزیکي ځانګړنې یې یو بل ته ورته والی لري او د تکامل له امله پکې رامنځته شوې وي.

اوسمهال یې له پخوانیو ډولونو ټولټان درې نسلونه جوړ شوي : هر یو یې لیسوتریتون، اوماتوتریتون او الپین تریتون دي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یورروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تریتوروس |

تشریح
تریتوروس تقریبا د غټې تنې لرونکي تریتون دي. اوږدوالی یې له ۱۰ تر ۱۶ سانتي متره پورې وي خو د تاج لرونکي تریتون ځینې ډولونه یې تر ۲۰ سانتي متره پورې اوږده هم شته. د بدن کچه یې له جنسیت او چاپېریال دواړو سره تړاو لري. په ډېری ډولونو کې یې ښځه د نر په پرتله تنه کې غټه وي او لکۍ یې تر نر اوږده وي. د ایټالیا تاج لرونکی تریتون په هغو سیمو کې غټ دی چېرې چې هوا سړه ده .

تاج لرونکی تریتون تېز نسواري رنګ لري او په دې رنګ کې د تور رنګ خالونه لري، ځینو غړو کې یې سپینوالی هم شته وي. د ګېډې رنګ یې له زېړ تر نارنجي پورې وي او د تور رنګ خاپونه پکې وي. د ښځې او وړو بچیانو په ملا کې زېړه کرښه موجوده وي. د مثل د تولید په موده کې په تاج لرونکي تریتون کې فزیکي بدلون رامنځته کیږي. فزیکي بدلون کې یې په ملا کې تاج پیدا کېدل، د لکۍ په څنګ کې سپینه کړۍ پیدا کېدل شامل دي .

مرمر تریتون تور او شین رنګ کې وي. د ښځې په ملا او لکۍ کې یې سور رنګه نارنجي کرښه وي. مرمر تریتون کوچنی خو ځورب وي. د مثل د تولید په موده کې یې نر په لکۍ کې د سپین رنګ کړۍ پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند دوران او چلند
لکه د تریتون د نورو دولونو په څېر د لارواي په توګه په اوبو کې وده کوي، د ځواني دوره په وچه کې تېروي او هر کال د مثل تولید لپاره بېرته اوبو ته تګ کوي. په هر ډول کې يې بشپړ ودې ته رسېدلی، د کال یوه برخه په وچه کې تېروي خو د هر ډول موده يې له بل ډول سره توپیر لري. د ژوند دوام يې له دواړو په وچه کې او اوبو کې د ژوند له چاپېریال سره تړاو لري او که چېرې يو هم ويجاړ شي ژوند ته ادامه نشي ورکولای او نسل يې ورکيږي. تقریبا له يو کال لارواي دورې وروسته په ځوان بچي بدليږي، يو تر دوه کاله يې د ځواني پړاو په وچه کې وي او له هغې وروسته بشپړ بلوغ ته رسيږي. کومې سيمې چې د سمندر له سطحې ډېرې لوړې دي په يادو سيمو کې لارواي او د ځواني پړاو اوږد وي. تر ډېره يې لارواي او واړه بچیان د مړيني له ګواښ سره مخ وي خو بشپړ ودې ته رسېدلي يې په اسانی بقا موندلی شي. ځينې ډولونه يې له ۷ تر ۹ کالو پورې عمر لري خو د تاج لرونکي تریتون ځينې ډولونه تر ۱۷ کالو پورې ژوند کولای شي.

په اوبو کې د ژوند پړاو
د تریتوروس نسل د تریتون ډولونه په داسي د ولاړو اوبو ډنډ کې ژوند خوښوي چې له پاسه سوری نه وي، کوچنی نه وي بلکې د منځنی کچې يا لوی ډنډ وي، د اوبو تل کې ګڼ واښه وي، کبان پکې نشته وي ځکه چې کبان يې لارواي بچیان ښکار کوي، همداسې طبيعي ډنډ نه وي بلکې انسانانو کندې جوړې کړې وي او بيا په ډنډ بدل شوی وي يا هم د باراني اوبو ډندونه وي. له دې پرته د پارکونو په کندو کې، د پټيو لښتيو کې، د شولو پټيو کې هم ژوند کولای شي .

په تریتوروس نسل کې دانوب ډول د روانو اوبو په سيندونو کې هم د مثل تولید کولای شي. د سيلاب ځيلو ځمکو په ډنډ شو اوبو او لښتيو کې هم ژوند کولای شي، همداسې د تریتون د نورو ډلونو برعکس له کبانو سره يوه چاپېریال کې ژوند کولای شي .

د تریتوروس نسل ډولونه د ژمي له خوب وروسته په پسرلي کې، کله چې تودوخه له ۴– ۵ °C پورته وي د مثل د تولید لپاره اوبو ته تګ پیل کوي. ډېری ډولونه يې دا چاره د مارچ په مياشت کې کوي خو کوم ډولونه چې په سوېل کې ژوند کوي تر دې مخکې اوبو ته ځي او له جنوري تر مارچ پورې موده کې د مثل تولید کوي .اوبو کې د وخت تېرولو موده يې هر ډول کې توپیر لري د مرمر ډول بشپړ ودې ته رسېدلي يې تر درې مياشتو پورې اوبو کې پاتې کيږي، د دانوب تریتون بشپړ ودې ته رسېدلي يې تر ۶ مياشتو اوبو کې پاتې کيږي. په اوبو کې د پاتې کېدو موده يې د تني له جوړښت سره هم تړاو لري : د کومو چې تنه زيات ګردوالی يا استوانه اي جوړښت لري د لامبو وهنې لپاره مناسب وي او تر ډېره اوبو کې پاتې کېدونکي وي .

کله چې د ژوند پړاو په اوبو کې ترسره کوي په دې موده کې د شپې لخوا فعال وي او خپل فعاليت د اوبو په ژورو برخو کې کوي. د اوبو ژورو برخو کې د ګيا لاندې پټ وي. همداسې د سا اخيستنې لپاره د اوبو سطحې ته را پورته کيږي. په اوبو کې د ژوند پړاو پر مهال پرېمانه خواړه د ښکار لپاره لري. د تاج لرونکي تریتون ځوان بچیان يې د لنډ مهال لپاره کله نا کله هر کال بېرته اوبو ته تګ کوي خو د مثل تولید نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وچه کې د ژوند پړاو
په وچه کې د ژوند د پړاو پرمهال مرمر تریتون په وچه کې پنا ځایونو ته، بې شمزیو ته د ښکار لپاره او لوندوالي ته اړتیا لري. په وچه کې د ژوند د پړاو پرمهال د ډېرې ډولونو اړتیاوې تر اوسه نه دي مطالعه شوي، لامل یې په وچه کې د پټ تریتون موندل او مطالعه ستونزمنه چاره ده. په داسې چاپېریال کې ژوند کوي چېرې چې ونې شته وي خو د ونو لاندې کم واښه وي او یا واښه نشته وي، د نختر ځنګلونو کې هم ژوند کول خوښوي. کوم چې په سوېل کې دي تر ډېره د څېړیو په ځنګلونو کې وي. که چېرې یې چاپېریال کې ځنګلونه نشته وي په ګڼو بوټو کې هم ژوند کولای شي.

تریتون د پټېدو لپاره پنا ځای ته اړتیا لري او تر ډېره دیوالونو کې، ستو کې، ساقو کې سورې، د ډبرو لاندې ځای او د وړو تی لرونکو سمځې کاروي. په یوه پنا ځای کې څو غړي پټیږي. په وچه کې د ژوند لپاره چاپېریال له داسې اوبو سره نږدې ټاکي کومو کې چې د مثل د تولید موده کې هګۍ اچوي.

ځوان بچیان یې د مثل د تولید لپاره نوو سیمو ته ځي خو بشپېړ ودې ته رسېدلي یې هر کله پخوانۍ د مثل د تولید سیمې ته بېرته تګ کوي. تریتون له خپلې سیمې په یوه شپه کې تر سل مترو لرې تګ نه کوي او که چېرې تګ وکړي نو په هېڅ وجه تر یو کیلو متر لرې نه ځي. د لوري موندنې لپاره بوي او د نورو دوه ژواکو غږ کاروي. په هغو شپو کې چې کله لوندوالی زیات وي تر نورو شپو ډېر فعال وي، د ورځې لخوا خپل پنا ځای کې پټ پاتې کیږي. د اوړي پای کې یې فعالیت د کال تر نورو فصلونو زیات وي. تر ډېره خوب د ژمي فصل کې کوي خو په سوېل کې کله چې د اوړي پر مهال وچوالی زیات وي د اوړي خوب هم کوي.

خواړه او د نورو لخوا ښکار کېدنه
تر ډېره یې خواړه واړه بې شمزي دي. کله چې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوي په دې موده کې یې خواړه د ځمکې چونجیان، انالېډ، مختلف ډوله حشرې او حلزونونه دي. کله چې د مثل د تولید لپاره بېرته اوبو ته ولاړ شي په اوبو کې په مختلف ډوله بې شمزیو ځان تغذیه کوي خو له دې پرته د چونګښو واړه بچیان، د تریتون واړه بچیان او نور دوه ژواکي هم ښکار کوي. لاروای بچیان یې له خپلې کچې واړه د چونګښې بچیان او یا هم د خپل ډول تر خپل ځان واړه لاروای بچیان ښکار کوي .

د تریتوروس نسل په لاروای بچیانو نور بې شمزي او د اوبو مرغان ځان تغذیه کوي. همداسې که چېرې ښکار کوونکي کبان اوبو کې شته وي په لاروای بچیانو یې برید کوي. بشپړ ودې ته رسېدلي یې کوم چې په وچه کې ژوند کوي تر ډېره له مرغانو په سمڅو او غارونو کې پټیږي خو کله نا کله یې د اوږدې مښوکې مرغان خوري. له دې پرته یې د وښو ماران او واړه تی لرونکي یې هم خوري. پوستکی یې د تېټرو ډوټوکسین په نوم زهر ترشح کوي او که چېرې تاج لرونکی تریتون یې له ګواښ سره مخ شي سملاسي په ملا څملي او خپله نارنجي ګېډه باندې بل ژوي ته د زهرو لرلو ګواښ کوي په دې وخت کې شیدو ته ورته مایع بهر ته پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اناتولیا یا کوچنۍ اسیا تاج لرونکی تریتون
Anatolian crested newt
د ډول علمي نوم يې (Triturus anatolicus) دی. د ترکې د اناتولیا په شمال کې پيدا کيږي. په ۲۰۱۶ کې له مطالعه کېدو مخکې ګمان کېده چې د سوېل له تاج لرونکي تريتون او د بالکان له تاج لرونکي تريتون سره تړاو لري. جنتيکي مالوماتو ښودلې چې د اناتوليا تريتون له نورو يادو دوه ډولونو سره توپير لري خو په ورته وخت کې د بالکان له تريتون سره ځان دوه رګه کوي .

د بالکان او سوېل له تاج لرونکي تريتون سره يې توپير نه کيږي. ۱۳-۱۲ پوښتۍ لري او د ملا د تېر مهرې پکې وي. د ملا رنګ يې نسواري تور رنګ کې وي کوم کې چې د بل رنګ خالونه موجود دي. د خالونو شکل يې هر غړي کې توپير لري. د ګېډې رنګ يې نارنجي وي خو تور خاپونه پکې لري. ښځه يې تاج نه لري او مقعد يې پړسوب نه پيدا کوي .

تر ډېره په اوبو کې وده کوي خو کله چې بشپړ ودې ته ورسيږي نو بيا د کال ډېره برخه په وچه کې تېروي. هر کال د اوبو ډنډونو ته د مثل د توليد لپاره بېرته تګ کوي چېرې چې د نر په ملا کې تاج وده کوي. ښځه يې چې هګۍ وکړي د اوبو د بوټو په پاڼو پسې يې نښلوي.

د اناتوليا تاج لرونکی تريتون د نورو تاج لرونکو په پرتله ځورب بدن لري. اوږدوالی يې له ۱۰ تر ۱۳ سانتي متره پورې رسيږي. نيمه په اوبو کې ژوند کوونکی دی، د کال لويه برخه په وچه کې تېروي او يوازې د مثل د توليد لپاره بېرته اوبو ته تګ کوي. د نسل د غړو شمېر يې کافي شته دی او سملاسي د ورکېدو له خطر سره نه دی مخ.

ډلبندي
ميټوکونډرياڵ مالوماتو په ۲۰۱۳ کې ښودلې وه چې جلا ډول دی خو څېړونکي دا غوره ګڼله چې د جلا ډول په توګه له تشريح کولو مخکې نور مالومات ترلاسه کړي او په لنډ مهاله توګه يې د بالکان په تاج لرونکي تريتون کې شامل کړی وو. په ۲۰۱۶ کې بېن ويلسټرا او جان ارنتزېن مطالعه کړ. د اټومي ډي اېن اې څېړنو يې ښودلې چې د جېن جلا پول يا د جېنونو جلا سېټ جوړوي او يا هم جنتيکي مالومات يې له نورو ورته ډولونو سره توپير لري، همداسې د اناتوليا په لويديځ کې، په مالوماتو کې يې د بالکان دوه رګه کېدنه هم موندل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تریتوروس |




د بالکان تاج لرونکی تریتون

Balkan crested newt

د بورېش تاج لرونکي تریتون په نوم هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Triturus ivanbureschi) دی. په تریتوروس نسل کې د تاج لرونکي تریتون یو ډول دی. مخکې د سوېل د تاج لرونکي تریتون فرعي ډول ګڼل کېده خو کله یې چې په جنتیکي مالوماتو کې توپیر ولیدل شو نو مسلکي پوهانو وړاندیز وکړ چې د مکدونیا له تاج لرونکي تریتون سره تړاو لري. په ۲۰۱۳ کې د جلا ډول په توګه ډلبندي شو. نوم یې د بلغاریا د دوه ژواکو د مطالعه کوونکي ایوان بورېش له نوم څخه اخیستل شوی .

د بالکان په سوېل ختیځ کې (د مکدونیا د شمال په لوېدیځ کې، د یونان په شمال لوېدیځ کې، بلغاریا او ترکیه کې) شته دي. په ختیځ کې د بالکان تاج لرونکی تریتون د اناتولیا له تاج لرونکي تریتون سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه رګه کیږي، په لوېدیځ او شمال کې د مکدونیا، دانوب او د شمال له تاج لرونکي تریتون سره دوه رګه کیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تریتوروس |




د سوېل تاج لرونکی تریتون
Southern crested newt
د ډول ساينسي نوم يې (Triturus karelinii) دی. د شمال له تریتون سره ورته والی لري، خپله کې يې توپير غټوالی او څوربوالی دی. په ۲۰۱۳ کال کې د بالکان تاج لرونکی تریتون د سوېل له تاج لرونکي تریتون جلا شو او د جلا ډول په توګه ډلبندي شو. همداسې د بالکان له تاج لرونکي تریتون څخه په ۲۰۱۶ کې د اناتولیا تاج لرونکی تریتون هم جلا شو اوسمهال درېواړه جلا ډولونه دي .

د سوېل د تاج لرونکي تریتون د ملا رنګ له نسواري تر تور پورې وي او خالونه پکې موجود وي. د ګېډې رنګ يې نارنجي او تور خاپونه پکې وي. اوږدوالی يې تر ۱۸ سانتي متره پورې رسيږي. د نر په ملا کې يې تاج وده کوي .
په کريميا، د کسپين سمندر د سوېل په سيمو او ققفاز کې پيدا کيږي .
په مختلف ډوله غريز چاپېريال کې ژوند کوي، همداسې د پراخو د ونو لرونکو ځنګلونو کې او د نختر د ونو په ځنګلونو کې هم شته وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له درې تر څلور کلنۍ پورې عمر کې جنسي بلوغ ته رسيږي. د مثل د توليد په موده کې په هر ډول اوبو کې پيدا کيږي. نر يې تر اته کالو پورې او ښځه يې تر يولسو کالو پورې ژوند کولای شي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تريتوروس |



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایټالیا تاج لرونکی تریتون
Italian crested newt

په تریتوروس نسل کې د تریتون یو ډول دی. د ډول ساینسي نوم یې (Triturus carnifex) دی. د بالکان په ځینو برخو او ایټالیا کې پیدا کیږي. د کال تر ځلورو میاشتو پورې موده د مثل د تولید لپاره په اوبو کې تېروي. په فعاله توګه لامبو وهلی شي او له همدې امله په ژورو اوبو کې ژوند کوي. د اروپا په شمال کې چېرې چې هوا تر نورې اروپا ډېره سړه ده د ژوند لپاره د اوبو ډنډونه خوښوي. د فبېروري او مې میاشت کې اوبو ته ځي او د جولای او اکتوبر تر منځ بېرته وچه کې ژوند پیل کوي. په ګرمو سیمو کې یوازې په جولای کې دوه اونۍ اوبو ته د مثل د تولید لپاره ځي او دوه اونۍ پس بېرته وچه کې ژوند پیل کوي.

د سیمو سره هوا یې د بدن په کچې مستقیم اغیز لري او دواړه نر او ښځه یې د ګرمو سیمو په پرتله واړه وي. خو په سړو سیمو کې یې ښځه غټې اوسیت او د هګیو غټه کیسه لري او له همدې امله د نر په پرتله بدن کې غټه وي.

بشپړ ودې ته رسېدلی یې معمولا په پوستکي سا اخلي خو خپل سږي هم د سا اخیستنې لپاره کاروي. په سړو تر ډېره هغه وخت کې سا اخلي کله چې اوبو کې اکسیجن کم وي او یا چې کله دروند فعالیت کوي لکه ځان تغذیه کول، د مثل تولید کول او یا نر او ښځه د جنسي اړیکې لپاره جوړه کېدل.

که چېرې یې وینه کمه شي د وینو د حجرو له اړتیا پرته سا اخیستلای شي. له وینې کمېدو دوه اونۍ وروسته د حجرو یوه غنچه جوړوي او یادې حجرې په بدن کې د وینې د موجودو سرو حجرو په بیا احیا کېدو کې رول لوبوي. په ژمي کې یې بدن په وینه کې پرولکټین پریږدي کوم چې یاد تریتون د اوبو چاپېریال تلو ته اړ کوي او د سودیم د ایونونو فعال لېږد کموي. په اوړي کې یې بدن د الډوسټېرون له امله انزایمي فعالیت زیاتوي او د ایون د ټرانسپورټ د کمېدو لامل کیږي.

د تریتون له نورو ډولونو سره د سیالي د مخنیوي لپاره په ژورو اوبو کې د مثل تولید کوي. د شپې لخوا فعال وي. غټ بدن یې د تریتون د هغو ډولونو د ښکار وړتیا ورکوي کوم چې تنه کې واړه دي. کومې ښځې یې چې د مثل تولید کوي په دقیقه توګه د خپل بدن تودوخه تنظیموي او همداسې تر هغو ښځو چې د مثل تولید نه کوي زیاته تودوخه غوره ګڼي.

په کوم چاپېریال کې چې ژوند کوي د صنعتونو لخوا د کاډیم عنصر د کثافاتو په توګه غورزول کیږي، یاد عنصر د ککړتیا لامل کیږي او ککړتیا یې د ادرېنال مرغړیو په فعالیت اغیز کوي. همداسې که چېرې نونیل فېنول ته ځرګند شي نو د کورټي کوسټېرون او الډوسټېرون هورمونونو تولید پکې کمیږي کوم چې سټرس ته د غبرګون لپاره اړین دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوكاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | كورډاټا |
| كلاس | دوه ژواكي |
| ډله | يوروډېلا |
| كورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي كورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تريتوروس |



(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمال تاج لرونکی تریتون
Northern crested newt

د غټ تاج لرونکي تریتون او زخې لرونکي تریتون په نومونو هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Triturus cristatus)دی. په انګلستان کې، شمالي او مرکزي اروپا کې او د سایبریا په لوېدیځ کې پیدا کیږي. غټ تریتون دی. ښځه یې تر شپاړس سانتي متره پورې اوږدوالی لري. د ملا رنګ یې تور ته ورته نسواري وي او د ګېډې رنګ یې له ژېړ تر نارنجي پورې رنګ کې وي او په دې رنګ کې د تور یا نسواري رنګ خاپونه موجود وي. د مثل د تولید په موده کې یې نر په ملا او لکۍ کې تاج پیدا کوي .

د کال ډېره برخه په وچه کې تېروي او په وچه کې تر ډېره د تېږو ځمکو په ځنګلونو کې وي. په پسرلي کې داسې اوبو ته د مثل د تولید لپاره تګ کوي چېرې چې غټ ښکاري کبان نشته وي. د جوړه کېدو پرمهال یې نر خپل سپرم په ځمکه غورزوي او ښځه یې په خپل مقعد کې داخلوي. القاح یې د ښځې په داخل کې ترسره کیږي او له القاح وروسته یې ښځه تر دوه سوه پورې هګۍ اچوي. خپلې هګۍ د اوبو په بوټو پسې نښلوي. لاروای بچیان یې په درې ځلور میاشتو کې په واړه ځوان بچي بدلیږي او له اوبو وچې ته تګ کوي. په اوبو او وچه کې په بې شمزیو ځان تغذیه کوي .

د تاج لرونکي تریتون ډېرې ډولونه کوم چې مخکې فرعي ډولونه ګڼل کېدل اوسمهال د جلا ډول په توګه ډلبندي شوي. تر ټولو نږدې ورسره تړاو لرونکی ډول د دانوب تاج لرونکی تریتون دی. ځینې وخت کې د تریتون له نورو ډولونو سره دوه رګه نسل هم رامنځته کوي، په دې کې مرمر تریتون هم شامل دی. په اروپا کې یې قانون ساتنه کوي، لرل، نیول، وژل او یا هم د ژوند لپاره چاپېریال ویجاړول یې جرم ګڼل کیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تریتوروس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دانوب تاج لرونکی تریتون


Danube crested newt

د ډول ساینسي نوم يې (Triturus dobrogicus) دی. د دانوب سیند په اوږدو کې، په مرکزي او ختیځه اروپا کې پیدا کیږي. په تریتوروس نسل کې د نورو تاج لرونکو تریتون د ډولونو په پرتله زیات ګرد او کوچنی بدن لري. د مثل په موده کې يې نر په ملا کې او د لکۍ له پاسه تاج پیدا کوي. په ټول کال کې تر نیم کال یا تر نیم کال زیات وخت په ورو بهېدونکو اوبو کې تېروي. په اوبو کې د مثل تولید کوي، ښځه يې تر دوه سوه پورې هګۍ اچوي او خپلې هګۍ په بوټو پسې نښلوي. لاروای بچیان يې له دوه تر څلورو میاشتو پورې وده کوي او له دې پس په واړه ځوان بچي بدلیږي. د کال پاتې برخه په وچه کې تېروي. په اروپا کې يې قانون ساتنه کوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تریتوروس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مکدونیا تاج لرونکی تریتون

Macedonian crested newt

د ډول ساینسي نوم يي (Triturus macedonicus) دی. په بوسنیا، البانیا، یونان، بلغاریا او مکدونیا کې پیدا کیږي. څو ځلې ډلبندي شوی : په پیل کې د سویل د تاج لرونکي تریتون مختلف ډول ګڼل کېده، وروسته د ایټالیا د تاج لرونکي تریتون فرعي ډول وګڼل شو خو په ۲۰۰۷ کال کې د مالیکولي فیلوجنتیک مالوماتو له مخې جلا ډول وګڼل شو.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تریتوروس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرمر تریتون
Marbled newt
د ډول ساینسي نوم یې (Triturus marmoratus) دی. د لوېدیځې اروپا په اېبېرین ټاپوزمه او فرانسه کې پیدا کیږي. په غرنیو ځنګلونو کې ژوند کوي. تل هڅه کوي چې داسې ځای کې وي چېرې چې په اسانۍ پنا ځای موندلی شي. د ژوند لپاره چاپېریال یې موقتي وي او د سیمې له اقلیم بدلېدو سره نور نشته وي لکه د اوبو ډنډونه کوم چې په تودو میاشتو کې وچیږي او مرمر تریتون دې ته اړ کوي چې په وچه کې ژوند پیل کولو سره ځان بلد کړي. د نسل کوم غړي یې چې د مدیترانې له سیمې سره نږدې دي د فرانسې د غرو په پرتله ژر بلوغ ته رسیږي. په مدیترانه کې د موسم د بدلېدو له امله یې بلوغ ته د رسېدلو مړینه د نورو سیمو په پرتله ډېره ده .

د بدن رنګ یې تور او شین وي. د ګېډې رنګ یې تور او په تور رنګ کې سپین خالونه لري. د ښځې په ملا کې د لکۍ تر پایه پورې نارنجي کرښه موجوده وي. واړه بچیان یې هم نارنجي کرښه لري خو نر یې چې کله نهه میاشتو ته ورسیږي یاده کرښه پکې ورکیږي. د مثل د تولید په موده کې یې د نر په ملا کې او د لکۍ تر پایه پورې تاج وده کوي. اوږدوالی یې له ۱۳ تر ۱۷ سانتي متره پورې رسیږي .

په پسرلي کې د مثل د تولید لپاره اوبو ته کډوال کیږي او د کډوالۍ پر مهال یې ښکاري ژوي ښکار کوي. له خپل استوګنځای تر ۱۶۰ متره لرې تګ نه کوي. کله هم چې کډوال کیږي تر ډېره په بوټو او ونو کې تګ کوي تر څو په اسانۍ پنا ځای پکې وموندلی شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرې سيمې اقليم يې د هډوکي د جوړښت په غلظت اغيز لري. لکه د نورو دوه ژواکو په څېر په پسرلي او اوړي کې د ودې پړاو تجربه کوي او ورپسې په ژمي کې يې وده درېږي. په فبروري کې د مثل توليد کوي او له هګيو يې لاروای بچيان د مارچ په پای کې پيدا کيږي. د اپرېل له پيل تر د جون پای پورې يې بدن بدلون مومي. له جولای تر سپتمبر پورې د اوړي تودوخه چې کله سيمه کې زياته شي د مثل د توليد لپاره يې موجود ډنډونه وچيږي. په دې موده کې يې فعاليت کميږي او کله چې د اګسټ په پای کې بيا ځلې بارانونه ووريږي نو بېرته په فعاليت پيل کوي.

دخپلو ډنډونو ادرس د اسماني نښو له مخې پيدا کوي او که چېرې هوا خړه وي نو تر هغې پورې نه کډوال کيږي تر څو بيا ځلې اسمان نه وي شين شوی. له دې پرته ممکن د ځمکې نښې او د ډنډونو بوي د ډنډ پيدا کولو لپاره وکاروي. ځينې وخت کې د هغو چونګښو غږ باندې ډنډ پيدا کوي کوم چې له تريتون سره د اوبو ګډ چاپېرېال لري. د غوږونو بهرنی جوړښت يې پېچلی نه دی تر څو غږ ته پرې پروسېس ورکړي خو داخل کې يې سيستم د غږ پېژندلو وړتيا لري .

نر يې د مثل د توليد لپاره غټه ښځه خوښوي. ښځې يې په تنه کې له نر غټې وي او همداسې د نر په پرتله زيات عمر کوي. ښځه يې د نر په پرتله ژر جنسي بلوغ ته رسيږي. ښځه يې د مثل د توليد لپاره نر د تاج له مخې خوښوي، که چېرې يې تاج ډېر لوړ وي د ښځې د خوښې وړ کيږي. نر يې خپله تنه کې مرغړې لري کوم چې د کيمياوي توکو ماليکول خپروي او ياد ماليکول يې ښځه نر ته د مثل د توليد لپاره جذبوي .

د هګيو اچولو لپاره يې وخت او ځای دواړه ښځه ټاکي او نر پکې واک نه لري. هر وخت د هګۍ اچولو لپاره ځای بدلوي او په دې چاره د بچيانو د مړينې د کمېدو هڅه کې وي. په خپلو وروستيو پښو خپله هره هګۍ په ډېر پام سره د اوبو د بوټو په پاڼو پسې نښلوي. مخکې تر دې چې هګۍ په پاڼه کې پټه کړي لمړی د پاڼې تفتيش کوي. ځينې وخت يې د هګۍ اچونه او پاڼې پسې د نښلولو هڅه له ماتې سره مخ کيږي او يا هم مخکې له مخکې بله هګۍ پکې شته وي. د هګۍ اچونې او په پاڼه کې نښلونې چاره يې د سا اخيستنې بهير کې هم خنډ رامنځته کوي خو که ډېر وخت ونيسي نو په پاڼې پسې نښلول يې بس کوي او د سا اخيستنې لپاره د اوبو سطحې ته تګ کوي .

د نسل د کمېدو له امله يې هڅې پيل شوي چې د ژوند لپاره د چاپېرېال ساتنه يې وشي او د نسل غړي يې له مړينې وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډاى |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ترېتوروس |



د سوېل مرمر ترېتون

Southern marbled newt

د لنډې مرمر ترېتون په نوم هم يادېږي. د ډول ساينسي نوم يې (Triturus pygmaeus) دی. په پرتګال او هسپانيا کې پيدا کيږي. د معتدلو سيمو په ځنګلونو کې، د مديترانې سيمې ته ورته بوټو کې، سيندونو کې، ډنډونو کې، د کليوالو سيمو په باغچو کې او څر ځايونو کې ژوند کوي. مخکې ګمان کېده چې د مرمر ترېتون فرعي ډول دی خو له جنتيکي مطالعې وروسته د جلا ډول په توګه ډلبندي شو .

په فزيکي توګه مرمر ترېتون ته ورته والی لري خو په تنه کې له مرمر ترېتون کوچنی دی. بشپړ ودې ته رسېدلی يې تر ۱۳ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. د ملا رنګ يې زېړ رنګه شين او تور وي. له سر د لکۍ پايه پورې نرۍ نارنجي کرښه لري. د ګېډې رنګ يې کريمي سپين او تور وي. د مثل د توليد په موده کې يې د نر په ملا کې تاج وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تریتوروس |



## سور ګېډی تریتون

## Fire belly newt

مختلف ډوله تریتون دي کوم چي د تریتون یو نسل جوړوي، نسل ته يي سینوپس نوم اخلي، اصلي ځای يې چين او جاپان دی. ګېډه يې روښانه سور یا زېړ رنګ لري خو دا ډول رنګ د نورو نسلونو په تریتون کې هم شته وي. پوستکی يې زهر ترشح کوي او که چېرې د انسان بدن ته د ټپ له لارې داخل شي نو ژوند يې ګواښلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |

## ډولونه

په ځيني ډلبنديانو کې د سينوپس نسل تريتون په هيپسېلو تريتون نسل کې ډلبندي شوي د ۲۰۱۹ کال تر اکتوبر پورې يې پېژندل شوي ډولونه دي:

| سيمه | عام نوم | ساينسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| چېنګونګ د يونان ولسوالی | د چېنګونګ سور ګېډی تريتون | *Cynops chenggongensis* | |
| د چين ګوېجو او يونان | د نيله لکۍ سورګېډی تريتون | *Cynops cyanurus* |  |
| د جاپان روکيو د ټاپوګانو ټولګه | اوکيناوان تورې ته ورته لکۍ لرونکی تريتون | *Cynops ensicauda* |  |
| فوجيان | د فوجيان د فوډينګ سيمې سورګېډی تريتون | *Cynops fudingensis* | |
| ګوانګډونګ، چين | | *Cynops glaucus* | |
| چين | چينايي سورګېډی تريتون | *Cynops orientalis* |  |
| ګوانګډونګ، چين | ډايانګ تريتون | *Cynops orphicus* | |
| جاپان | جاپانی سور ګېډی تريتون | *Cynops pyrrhogaster* |  |
| د چين يونان سيمه | د يونان د بند تريتون | *Cynops wolterstorffi* | |
| د چين يونان سيمه | | *Cynops yunnanensis* | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چينګونګ سور ګېډی تریتون
# Chenggong fire belly newt

د ډول علمي يا ساينسي نوم يې (Cynops chenggongensis) دی. د چين د تریتون يو ډول دی. د چين د یونان سيمې د چينګونګ ولسوالۍ په شویتن کې پيدا کيږي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |

# چيوشيونګ سور ګېډی تریتون
# Chuxiong fire-bellied newt

د نيله لکۍ لرونکی سور ګېډی تریتون نوم هم ورته اخلي. د ډول علمي يا ساينسي نوم يې (Cynops cyanurus)دی. د چين په ګويجو او یونان سيمو کې پيدا کيږي. د ټيټو هوارو ځمکو په لندو ځنګلونو کې ژوند کوي. لاروای يې او د تازه اوبو په ډنډونو کې تېروي. د ژوند لپاره د چاپېريال ويجاړوني يې د نسل غړي کم کړي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توري ته ورته لکۍ لرونکی تریتون

# Sword-tail newt

زېړ ګېډی تریتون، اوکیناوا تریتون نومونه هم ورته اخلي. د ډول علمي نوم یې (Cynops ensicauda)دی. د جاپان د روکیو ټاپوګانو په ټولګه کې پیدا کیږي. د نسل غړي یې ډېر کم پاتې دي او نوم یې د جاپان د دوه ژواکو په سور نوملړ کې دی. پوستکی یې زهر ترشح کوي. پراخ سر او هوار پوستکی لري، تور تر نسواري پورې رنګ کې وي. ځیني یې ملا کې سور ته ورته نارنجي ټکي لري. نر یې تر ۱۲.۸ سانتي متره او ښځه یې تر ۱۸ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. نر او ښځه یې ډیمورفېزم ښي : د ښځې لکۍ یې له خپلې تنې ډېره اوږده وي، د نر لکۍ یې ډېره لنډه وي . د ژوند لپاره چاپېریال یې د سیمو پراختیا ویجاړ کړی همداسې غټ کبان یې واړه بچیان ښکار کوي او دې چارو یې نسل د ورکېدو له خطر سره مخ کړی. له بل لوري سیمو کې د باراني اوبو د تخلیه کولو لپاره کانګریټي لښې جوړ شوي، د باران اوبه یې یادو لښتیو ته وړي او له باران درېدو وروسته پکې مړه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |



# فوډينګ سور ګېډی تريتون
# Fuding fire belly newt

د ډول علمي نوم يې (Cynops fudingensis) دی. د چين د فوجيان د شمال ختيځ په فوډينګ سيمه کې پيدا کيږي. د جنتيک له مخې چينايي سور ګېډي تريتون ته ورته والی لري او په مورفولوجيکي توګه ډايانګ سور ګېډي تريتون ته ورته دی خو له دواړو يې د ژوند سيمه جلا ده. په سينوپس نسل کې شامل دی خو يوه بله ډلبندي يې د چين له نورو تريتون سره په هيپ سيلو تريتون نسل کې ډلبندي کوي. سورګيډی فوډينګ کوچنی تريتون دی او تر ۴ انچه پورې اوږدوالی لري. د ژوند لپاره د چاپيرېال ويجاړونکي او نسل کمونکي يې سېلانيان، دوېم ګام کې ښکاري ژوي لکه چونګښې او سورغوږې شمشتی دي، درېم ګام د دوه ژواکو هغه مطالعه کوونکي دي کوم چې ژوي د مطالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره راټولوي. د مثل د تولید لپاره اړینه ده چې لوی شمېر خپله کې سره ډله وي. په اپرېل میاشت کې هګۍ اچوي او خپله هره هګۍ د اوبو د بوټو په پاڼو پسې نښلوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډاى |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |

# چيناي سور ګېډۍ تريتون
# Chinese fire belly newt

د منځنۍ کچې زهرجن پوستکی لري. د پوستکي ترشح کېدونکي زهر يې په بنستيزه توګه ټېټرو ډوټوکسين دي. که چېرې يې زهر د انسان له پوستکي سره اړيکه کې شي پوستکی بې حسه کوي او نا ارامتيا پکې پيدا کوي خو که چېرې بدن ته يې داخل شي نو ژوند يې ګواښلی شي .
د ډول علمي يا ساينسي نوم يې (Cynops orientalis) دی. له دوه تر څلور انچو پورې اوږدوالی لري. د تنې پاسه برخه يې تور او ګېډه يې سور رنګ کې وي. د ژو پلورونکو هټيو کې پلورل کيږي او د کورني ژوي په توګه ساتل کيږي. د طبيعي چاپېريال په داسي سيمو کې ژوند کول خوښوي چېرې چې د اوبو ډنډونه موجود وي او ګڼ واښه پکې وي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډاى |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډایانګ تریتون
# Dayang newt

د ډول علمي نوم يې (Cynops orphicus) دی. اصلي ځای يې چين دی. په ګوانګډونګ سيمه کې پيدا کيږي. په ۱۹۳۶ کې د مطالعې لپاره له ډايانګ سيمې نيول شوي وو. د چين په مرکزي فوجيان سيمه کې هم شته دي. په وړو ډنډونو او بندونو کې ژوند کوي او د ژمي د خوب لپاره ځنګلونه خوښوي. د انسانانو لخوا د ځنګل وهنې يې د ژوند لپاره چاپېريال ويجاړ کړی او د نسل د غړو شمېر يې له ګواښ سره مخ کړی.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سينوپس |


(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یونان د بند تریتون
# Yunnan lake newt

د ډول علمي نوم يي (Cynops wolterstorffi) دی. د تریتون په اوسمهال کې له منځه تللی ډول دی. د چين د یونان سیمې په کونمینګ بند کې پیدا کېده. په کمو ژورو اوبو کې يې ژوند کوه. له ۱۹۶۹ کال څخه را په دیخوا په طبیعي چاپېریال کې نه دی لیدل شوی. د نسل د غړو د ورکېدو لامل يې ککړتیا، د ژوند لپاره د چاپېریال ویجاړونه او ښکاري ژوي دي. په انګریزۍ کې ورته (Wolterstorff's newt)نوم هم اخلي او یاد نوم يي د جرمني د ځمکپوه او دوه ژواکو مطالعه کوونکي (Willy Wolterstorff) له نوم څخه اخیستل شوی.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | سینوپس |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# جاپانی سور ګېډې تریتون
# Japanese fire-bellied newt

د ډول علمي نوم يې (Cynops pyrrhogaster) دی. اصلي ځای يې جاپان دی. د بدن پاسه برخه يې خيره رنګ لري خو د ګېډې رنګ يې روښانه سور رنګ کې وي. له سیمې، جنتیک او عمر زیاتېدو سره يې رنګ کې بدلون رامنځته کېدای شي. بشپړ ودې ته رسېدلی يې له ۸ تر ۱۵ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. پوستکی يې د ښکاري ژو لپاره ټېټرو ډو توکسین زهر ترشح کوي او یاد زهر له خپلو خوړو ترلاسه کوي. زهر يې د عصابو نسجونه له منځه وړي.

د جاپان په ډېرو ټاپوګانو کې شته دي. په طبيعي ډنډونو او د انسان لخوا په جوړو شوو د اوبو تنو کې ژوند کولای شي، د ژوند یو پړاو په ځنګلونو او وښيزو سیمو کې تېرول خوښوي. له پسرلي تر د اوړي پیل پورې د مثل تولید کوي. دواړه جنسونه يې د جنسي اړيکي په موده کې فېرومون توليدوي - فېرومون د يوه ژوندي لخوا توليد شوي داسې کيمياوي ماليکول ته وايي چې د همدې ژوندي په بل غړي کې ځانګړی چلند پيدا کوي.

هګۍ يې جلا وي او په درې اونيو کې له شاربل کېدو وروسته په لاروای بچیانو بدلیږي. له پنځه تر شپږو مياشتو پورې موده کې يې لاروای د وړو بچيانو جوړښت ته بدليږي. د وړو بچیانو خواړه يې په خاوره کې ژوند کوونکي واړه ژوي دي، غټ يې د حشرو په مختلفو ډولونو، د چونګښو په بچيانو، او د بل تریتون په هګیو ځان تغذیه کوي. که چېرې د بدن یوه برخه له لاسه ورکړي بېرته وده کوي. د نسل غړي يې د کورني ژوي په توګه د پلور له امله او د ناروغیو له امله کم شوی.

سایسني ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | سینوپس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ليسوتريتون
# Lissotriton

د تریتون نسل دی، د اروپا په مختلفو هیوادونو کې پیدا کیږي، د کوچنی اسیا په ځینې سیمو کې هم شته دي. لکه د تریتون د نورو ډولونو په څېر خپله لاروای دوره په اوبو کې تېروي، بشپړ ودې ته رسېدلی یې په وچه کې ژوند کوي او د مثل د تولید لپاره بېرته اوبو ته ګرځي.

دا واړه ډولونه باید په تریتوروس نسل کې ډلبندي شوي وای خو فیلوجنتیک څېړنې یې دا ګروپ د پارافیلوټیک په توګه ښي. لیسوتریتون نوم په لمړي ځل په ۱۸۳۹ کې توماس بېل کارولی وروسته د کوچنی تنې لرونکي تریتون ډول لپاره د کوم چې علمي نوم (Lissotriton vulgaris) دی کارول شوی. تر اوسه پورې یې په پلورو ډیلیني فرعي کورنۍ کې ټاکل شوی فیلوجنتیک ځای نه دی مالوم .

د جوړې خوښوونه

د تکامل په بیولوجي کې د ښځې لخوا د جوړه کېدو لپاره د نر خوښول اړین مفهوم دی ځکه چې د نر او ښځې تر منځ د بریالي مثل تولید راز پکې نغښتی. په لیسوتریتون نسل کې په Lissotriton) (vulgarisډول تجربه شوې. په تجربه کې د یاد ډول ښځینه په پر له پسې ډول له دوه نرانو سره جوړه کړل شوې هر نر یې له ښځینه سره د مختلفي کچې جنتیکي توپیر لره. په پایله کې هغه نر کوم چې په جنتیکي توګه له ښځې سره ډېر توپیر لره د مثل تولید په ښه توګه کړی او کوم نر چې په جنتیکي توګه ورسره نږدېوالی لره ښځې له دې نر سره له مثل تولید کولو ډډه کړې .

ډولونه

په لیسوترتیون کې تر اوسه د تریتون لس ډولونه شامل کړل شوي. ځینې ډولونه یې د ځینو مسلکي کسانو لخوا فرعي ډولونه ګڼل شوي خو ټول مسلکي کسان پرې توافق نه لري .

-د بوسکا تریتون
-یونانی تریتون
-د پراخو منګول لرونکی تریتون
-ایټالوی تریتون
-د کوسویګ هوار تریتون
-د ققفاز هوار تریتون
-د کارپاتیان غره تریتون
-اروپایی تریتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |

# د بوسکا تريتون
# Bosca's newt

د ډول ساينسي نوم يې (Lissotriton boscai) دی پخوانی ساينسي نوم يې (Triturus boscai) وو. د ايبېريا تريتون په نوم هم ياديږي. په پرتګال او د هسپانيا په لويديځ کې پيدا کيږي. نوم يې د هسپانيا د دوه ژواکو د مطالعه کوونکي اډوارډو بوسکا له نوم څخه اخيستل شوی.

تشرېح

د ښځې د بدن اوږدوالی یې د نر په پرتله زيات وي. کله چې له اوبو بهر ژوند کوي د ملا په اوږدو کې د مرغړيو له امله زيږوالی لري. د بدن رنګ يې نسواري، زېړ رنګه او يا تېز شين رنګه وي. د ګېډې لاندې برخه يې نارنجي رنګ لري. نر يې د لکۍ په څوکه کې بهر ته وتلی روښانه رنګ ته وده ورکوي. د مثل د توليد په موده کې لکه د نورو په څېر ښکارېدونکي يا ليدل کېدونکي نه وي .

د ژوند چاپېريال

تر ډېره په اوبو کې ژوند کوي. په ډنډونو کې پيدا کيږي خو د انسانانو لخوا د اوبو په جوړو شوو تنو کې هم ژوند کولای شي. د نسل غړي يې له خطر سره نه دي مخ او سيمه کې په کافي اندازه شته دي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یونان هوار تریتون
# Greek smooth newt

د ډول ساینسي نوم يې (Lissotriton graecus) دی. د تریتون یو ډول دی، د بالکان په سوېل کې، کرواېشیا، مونتېنېګرو، البانیا، د مکدونیا په شمال کې، بلغاریا او یونان کې پیدا کیږي. په ۱۹۰۶ کال کې ویلي وېلټرستوف د (Triton vulgaris graeca) په توګه تشریح کړی وو او د هوار تریتون فرعي ډول يې ګڼلی وو خو وروسته جنتیکي مالوماتو په ګوته کړه چې له هوار تریتون سره ګډ پلرونه نه لري. په ۲۰۰۹ کال کې (Dubois and Raffaëlli) دواړو دا وموندله چې ځینې فرعي ډولونه د یونان د هوار تریتون په شمول فرعي ډولونه نه دي بلکې جلا ډولونه دي. مالیکولي فیلوجنتیک ښودلې چې د یونان له هوار تریتون سره تر ټولو نږدې تړاو لرونکی د اناتولیا کوسویګ هوار تریتون دی .

د یونان هوار تریتون د تریتون له نورو هوارو ډولونو سره په هغو ځانګړنو کې توپیر لري کومې چې د بشپړ ودې پرمهال نر کې راڅرګندیږي. نر يې په ملا کې تاج لري کوم چې تر یو ملي متر پورې لوړوالی لري. ګېډه کې يې د بل رنګ خالونه وي. د لکۍ د لاندې برخې پای کې يې ډېری وخت خالونه نشته وي. د وروستیو پښو منګولې يې د مخکینیو په پرتله ډېره وده کوي. د ژوند چاپېریال کې يې د کبانو ساتنې او د کبانو پرېښودنې منفي اغیز لرلای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | لیسو تریتون |



# د پراخو منګولو لرونکی تریتون
# Palmate newt

د ډول علمي نوم يې (Lissotriton helveticus) دی. په لویدیځې اروپا کې پیدا کېدونکی د تریتون ډول دی. له انګلستان د هسپانیا تر ابېریا ټاپوزمې پورې پیدا کیږي. له پنځه تر لس سانتي متره پورې اوږدوالی لري. زیتون ته ورته یا نسواري رنګ کې وي، په خپل رنګ کې د بل رنګ خالونه لري. د ګېډې رنګ يې له زېړ رنګه تر نارنجي رنګه پورې وي. په سر او مخ کې کرښې لري. د مثل تولید کوونکی نر يې د لکی پای کې فایبر ته ورته شکل ته وده ورکوي. په ملا کې نرم تاج ته ورته جوړښت لري او د وروستیو پښو منګولې يې د ګوتو ترمنځ پرده لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند لپاره چاپېریال يې ځنګلونه، ډنډونه، څرځايونه او واړه باغونه دي. د شپې لخوا فعاليت کوونکی دی. په پسرلي کې چې کله د ژمي له خوب ويښ شي داسې د اوبو تنو ته د مثل د توليد لپاره ځي چېرې چې کبان نشته وي. د جنسي اړيکي لپاره له چلند خپلولو او څرګندولو وروسته نر سپرم بهر ته باسي او ښځه يې خپل مقعد کې داخلوي. لاروای بچيان يې له لاروا دورې وروسته د ابېڅ يا ځواني پړاو تېروي او وروسته بشپړ ودې ته رسيږي. جنسي بلوغ ته په درې کلنۍ کې رسيږي. په وحشي چاپېريال کې تر ۱۲ کالو پورې عمر لري. د غړو شمېر يې هره سيمه کې زيات دی او د ورکېدو له خطر سره نه دي مخ.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایټالوی تریتون
# Italian newt

د ډول علمي نوم يې (Lissotriton italicus) دی. د ایټالیا د ګرمو سیمو په ځنګلونو او بوټو لرونکو ځمکو کې پیدا کیږي. د تازه اوبو په ډنډونو کې، څر ځایونو کې، د کرنې ځمکو کې، د کلیوالو سیمو باغونو کې، کانالونو کې هم شته وي. د طبیعي ځمکو جوړښت کې د بدلون له امله او په سیمه کې د برید کوونکو ډولونو له امله يې د ډول غړي کم شوي. د ډول مخکینی ساینسي نوم يې (Triturus italicus)دی خو کله چې د (Triturus) نسل سره ووېشل شو په لیسوتریتون نسل کې ډلبندي کړل شو. تر ډېره د ایټالیا په سوېل کې پیدا کیږي او په شمالي سیمو کې ډېر کم ژوند کوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | لیسو تریتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کوسویګ هوار تریتون

## Kosswig's smooth newt

د ډول علمي نوم يې (Lissotriton kosswigi) دی. د اناتوليا په شمال ختيځ کې پيدا کيږي. په ۱۹۵۵ کال کې په تريتوروس نسل کې شامل کړل شوی وو او د ډول مخکينی ساينسي نوم يې Triturus) (vulgaris kosswigiiوو، همداسې د هوار تريتون فرعي ډول ګڼل کېده. وروسته له دې چې جنتيکي مالوماتو په ډاګه کړه چې له هوار تريتون سره ګډ پلرونه نه لري نو په ۲۰۰۹ کال کې په ليسو تريتون نسل کې د جلا ډول په توګه ډلبندي شو. تر ټولو نږدې ورسره تړاو لرونکی د يونان هوار تريتون دی. بشپړ ودې ته رسېدلی نر يې د مثل د توليد پرمهال نوې ځانګړنې پيدا کوي کوم چې د هوار تريتون له نورو ډولونه سره توپير لري.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |




## د قفقاز هوار تريتون

## Caucasian smooth newt

د ډول علمي نوم يې (Lissotriton lantzi) دی. په روسيه له ډون سيند سره نږدې، جورجيا، ارمنستان، ازاربايجان او د ترکې شمال ختيځ کې پيدا کيږي. د سمندر په سطحه کې او د سمندر له سطحې تر ۲۵۰۰ متره پورې لوړو سيمو کې ژوند کوي. مخکې د هوار تريتون فرعي ډول ګڼل کېده اوس جلا ډول ګڼل کيږي. بشپړ ودې ته د رسېدلي نر ځانګړني يې د هوار تريتون له د نر له ځانګړنو سره توپير لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |

# د کارپاتيان غره تريتون
# Carpathian newt

د مونتاندون تريتون په نوم هم يادېږي. د ډول ساينسي نوم يې (Lissotriton montandoni) دی. په چېک جمهوريت کې، رومانيا، سلواکيا، پولنډ او يوکراين کې پيدا کيږي. تر لس سانتي متره پورې اوږدوالی لري. په سيندونو، د ګرمو سيمو ځنګلونو، تازه اوبو، ډنډونو، خړځايونو کې ژوند کوي. د ژوند لپاره د چاپېريال د ويجاړېدو له امله يې شمېر کم شوی .

د داسې سيمو تر څنګ ژوند کوي چېرې چې د مثل توليد کولای شي. ډېری وخت د نسکورو شوو ونو لاندې پټ وي. د مثل د توليد موده يې په پسرلي کې ده. په يوه کال کې يې ښځه تر ۲۵۰ پورې هګۍ اچوي. د هګيو د شاربل کېدو موده يې له تودوخې سره تړاو لري او له يوې تر څلورو اونيو پورې په بچيانو بدليږي. په دولسو اونيو کې يې د لاروای بچيانو بدن بدلون مومي. جنسي بلوغ ته په درې کلونو کې رسيږي .

ښځه يې د نر په پرتله اوږده وي. کوم چې اوبو کې د ژوند پړاو ترسره کوي هوار پوستکی لري او کوم چې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوي پوستکی يې د مرغړيو له امله زيږوالی لري. سر کې يې درې ژورې لارې موجودې وي. د بدن پاسه برخه يې ژېړ رنګه نسواري او يا زيتونو ته ورته نسواري رنګ کې وي او د تېز رنګ خالونه پکې وي، د تنې لاندې برخه يې ژېړ يا نارنجي رنګ لري. د مثل د توليد په موده کې يې نر د لکۍ له پاسه تاج ته ورته جوړښت پيدا کوي او د لکۍ څوکه کې يې روښانه رنګ پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډاى |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |



# د شمېټلر هوار تريتون
# Schmidtler's smooth newt

د ډول علمي نوم يې (Lissotriton schmidtleri) دی. په شمال لوېديځ يونان او شمال ختيځې بلغاريا کې پيدا کيږي. له بوسفوروس تر اناتوليا پورې سيمه کې هم شته دي. په ۱۹۸۸ کال کې کريسټوفر رکس ورتي په لمړي ځل تشريح کړی او په تريتوروس نسل کې يې د هوار تريتون د فرعي ډول په توګه ډلبندي کړی وو، پخوانی ساينسي نوم يې (Triturus vulgaris schmidtleri) دی. وروسته ومونډل شوه چې له هوار تريتون سره ګډ پلرونه نه لري او تريتوروس نسل سره وويشل شو. په ۲۰۱۷ کې په ليسوتريتون نسل کې د جلا ډول په توګه ډلبندي شول .

ودې ته رسېدلی نر يې د مثل د توليد پرمهال داسې ځانګړنې پيدا کوي کومې چې له هوار تريتون سره توپير لري. نر يې له ۵ تر ۷ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. ملا کې تاج يې تر ۲ ملي متره پورې لوړوالی لري او جوړښت يې غاښونو ته ورته وي. د مثل د توليد پر مهال د ليسوتريتون نسل د نورو ډولونو په څېر د لکۍ څوکه کې روښانه رنګ ته وده نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو تريتون |




# هوار تريتون
# Smooth newt

اروپايي تريتون، د شمالي تريتون او عام تريتون نومونه هم ورته اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Lissotriton vulgaris)دی. په اروپا کې او د اسيا په ځينو سيمو کې پيدا کيږي. وروسته استراليا ته هم انسانانو انتقال کړي. د بدن پاسه برخه يې نسواري ته ورته رنګ لري او په خپل رنګ کې د بل رنګ خالونه لري، د ګېډې رنګ يې له سپين تر نارنجي پورې امکان لري. اوږدوالی يې له ۸ تر ۱۱ سانتي متره پورې رسېدلی شي. نر يې تر ښځې اوږد وي. کله چې په وچه کې د ژوند پړاو ترسره کوي پوستکی يې هوار او وچ وي خو کله چې اوبو ته د مثل د توليد لپاره کډوال شي پوستکی يې نرميږي. نر يې د مثل د توليد پرمهال روښانه رنګ پيدا کوي او ملا کې يې تاج وده کوي. په ۱۷۵۸ کال کې کارل ليناس کربوړی ګڼلی وو .

هوار تريتون تر ډېره خپل ژوند په وچه کې تېروي. د شپې لخوا فعاليت کوي او د ورځې لخوا پټ وي. هر ډول چاپېريال سره بلدتيا پيدا کولای شي : له طبيعي چاپېريال نيولې تر نيمه طبيعي چاپېريال پورې، پارکونو، ځنګلونو او باغونو کې په ډېره اسانۍ ژوند ته ادامه ورکولای شي. خواړه يې حشرې او د ځمکې چونجيان او نور بې شمزي دي خو خپله د مارانو، مرغانو او کبانو خواړه دي. د پسرلي او اوړي تر منځ په ډنډونو او ډنډونو ته ورته د اوبو تنو کې د مثل توليد کوي. خپلې هګۍ د اوبو د بوټو په پاڼو اچوي. هګۍ يې له لس تر شلو ورځو پورې موده کې په لاروای بچيانو بدليږي. مخکې تر دې چې په وچه کې د ځوانۍ د پړاو لپاره بدلون ومومي د لاروای په توګه تر درې مياشتو پورې وده کوي. بلوغ ته په درې کلنۍ کې رسيږي او تر ۱۴ کالو پورې ژوند کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ليسو ټريټون |



# نيورېرګوس
# Neurergus

په سالامانډريډای کورنۍ کې د ټريټون نسل دی. په ترکيه او ايران کې پيدا کيږي. د رنګ له امله يې ځيني خلک په بندو ځايونو کې د نسل اخيستنې لپاره ساتي. په طبيعت کې داسې سيندونو او ډنډونو کې ژوند خوښوي چې چار چاپېره يې ځنګلونه او بوټي موجود وي. د نيورېرګوس نسل د ټولو ډولونو شمېر کم پاتې دی او د ورکېدو له خطر سره مخ دي. د غرو د شمېر د کمېدو لامل يې د ژوند لپاره د چاپېريال ويجاړونه او دوېم ګام کې د کورنيو ژو په توګه د ساتنې لپاره د دې ژو له طبيعت نيونه ده. د نيورېرګوس ډولونه معمولاً تېز رنګ لري : له نسواري تر تور پورې رنګونو کې شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي په کوم کې چې د سپين، زېړ يا نارنجي رنګ کرښې او خالونه موجود وي. لکه د ترېتون د نورو ډولونو په څېر وروستيو پښو کې پنځه ګوتې لري.

ډولونه
تر اوسه يې څلور ډولونه پېژندل شوي :

| سیمه | عام نوم | ساینسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| ترکیه | | *Neurergus barani* | |
| ایران، عراق او ترکیه | د ازاربایجان تریتون | *Neurergus crocatus* | |
| ایران او ممکن په ترکیه او عراق کې هم شته وي | د کوردستان تریتون | *Neurergus derjugini* |  |
| د ایران د زګروس غره په سوېل کې | د لورستان تریتون | *Neurergus kaiseri* |  |
| ترکیه | د اناتولیا تریتون | *Neurergus strauchii* | |

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلينې |
| نسل | نيورېرګوس |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ازار بایجان تریتون
## Azerbaijan newt

د یورمیا بند تریتون یا د زېړو خالونو لرونکی تریتون په نومونو هم یادیږي. نوم یې د " ازاربایجان تریتون " دی خو په ازاربایجان هېواد کې نشته دي بلکې د ایران په ازاربایجان سیمه کې پیدا کیږي.
د ډول علمي نوم یې (Neurergus crocatus) دی. د یورمیا بند لویدیځ لور ته غرونو کې، په شمال لویدیځ ایران کې، په شمال ختیځ عراق او سوېل ختیځه ترکیه کې پیدا کیږي.

له ۱۶ تر ۱۸ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. لکۍ یې له تنې اوږده وي. هوار پراخ سر لري او پراخوالی یې د تنې له سور زیات وي. ګرد شوی پوز یا اوربوز لري. د بدن غړي یې څواکمنه وده کوي، او منګولې یې ډبلې ګوتې لري. ملا یې له نسواري تر تور پورې رنګ کې وي او په دې رنګ کې زېړې کرښې یا خالونه موجود وي. د نر د ګېډې رنګ یې سور رنګه نارنجي او د ښځې زېړ رنګه وي. په څلور کلنۍ کې جنسي بلوغ ته رسیږي او په بند ساتل شوي ځای کې له ۱۲ تر ۱۵ کالو پورې عمر لرلای شي. کله چې د مثل تولید وکړي ودې ته رسېدلي یې بېرته ځنګلونو کې خپریږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | نیورېرګوس |

## د کوردستان تریتون
## Kurdistan newt

د لوېدیځ ایران او شمال ختیځ عراق په کردستان سیمه کې پیدا کیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Neurergus derjugini)دی. دوه فرعي ډولونه هم لري : ساینسي نومونه یې (Neurergus derjugini derjugini and Neurergus derjugini microspilotus)دي. دوېم فرعي ډول ته یې ځیني خلک اورومان داغ تریتون عام نوم هم اخلي. په ۱۹۱۶ کې نېستروف مطالعه کړي او ډلبندي کړي وو. په مایټوکونډریل د ډي اېن اې لړۍ کې یې فرعي ډولونه ډېر کم توپیر لري، د جېن نیوکلېر په لړۍ کې هم کم توپیر سره لري - په بیولوجي کې نیوکلېر د حجرې هستې سره تړاو لرونکي ته وایي .

په وړو ډنډونو او روانو لښتیو کې پیدا کیږي. د غړو شمېر یې د وچکالۍ، ککړتیا، د کورني ژوي په توګه د ساتنې لپاره له طبیعت د نیوني له امله کم شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | نيورېرګوس |



# د اناتوليا تريتون
# Anatolia newt

د ترکي په اناتوليا يا کوچنۍ اسيا کې پيدا کيږي. خواړه يې حشرې دي. د غرو شمېر د طبيعي چاپيريال د ويجاړېدو له امله کم شوی. په انګريزۍ کې ورته (Strauch's spotted newt) نوم هم اخلي. ساينسي نوم يې (Neurergus strauchii) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | نيورېرګوس |

# د لورستان تريتون
# Luristan newt

د قيصر تريتون، د قيصر غره تريتون، قيصر خال لرونکی تريتون، امپراتور خال لرونکی تريتون نومونه هم ورته اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Neurergus kaiseri) دی. د ايران په زګروس غره کې پيدا کيږي. د ډول غړي يې ډېر کم پاتې دي او له همدې امله يې په ځينو ژوبڼونو کې د نسل اخيستنې پروګرام پيل شوی. د سيمې داسې لښتيو کې پيدا کيږي چې د وچو سيمو بوټي ترې چار چاپېره موجود وي. په ډنډونو کې هم ژوند کوي. د کال په لويه برخه کې د سيمې اوبه وچيږي او دا موده په ځنګلونو کې تېروي. تر ډېره د ځېږيو او پستې د ونو په باغونو کې پټيږي. په ياده موده کې تر ډېره د ژمي خوب کوي. اوسنی مطالعه ښي چې د اقليم د بدلون له امله د ايران سوېل ته هم کډوال شوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | نيورېرګوس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوماتو تريتون
# Ommatotriton

کړۍ لرونکی یا کربښې لرونکی تریتون (banded newts) يې عام نوم دی. د تريتون نسل دی. درې ډولونه پکې شامل دي. په لوېديځه اسيا او قفقاز سيمه کې پيدا کيږي. په نسل کې شامل درېواړه ډولونه مخکې په تريتوروس نسل کې ډلبندي شوي وو .

ډولونه
تر اوسه يې درې ډولونه پېژندل شوي :

-د شمال کړۍ لرونکی تريتون
-د سوېل کړۍ لرونکی تريتون
-درېم ډول يې عام نوم نه لري او په خپل ساينسي نوم (Ommatotriton nesterovi) پېژندل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | اوماتو تریتون |

# د شمال کړۍ یا کرښې لرونکی تریتون
# Northern banded newt

د روسې په سوېل کې، د ارمنستان او جورجیا په لوېدیځ ققفاز کې او د ترکې په شمال ختیځ کې پیدا کیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Ommatotriton ophryticus) دی. مخکې دسوېل کرښې یا کړۍ لرونکې تریتون فرعي ډول ګڼل کېده خو په ۲۰۰۵ کې (Litvinchuk and colleagues) جلا ډول وګڼه .

د لکۍ اوږدوالی یې له سر او تنې سره برابر وي. د بدن غړي او ګوتې یې اوږدې وي خو په نر کې د ښځې په پرتله زیات اوږدوالی لري. پوستکی یې هوار وي خو کمه اندازه زیږوالی لري. په وچه کې چې کله د ژوند پړاو ترسره کوي ملا کې یې سورالی پیدا کیږي. کله چې اوبو کې د ژوند پړاو ترسره کوي ګېډه او ملا یې زیتونو ته ورته نسواري رنګ کې وي. د مثل د تولید پرمهال یې د نر په ملا کې تاج ته ورته جوړښت وده کوي .

په داسې ځنګلونو کې ژوند کوي چېرې چې د نختر ونې وي او یا یې هر کال ونې پاڼې رژوي. د مثل د تولید لپاره بېرته د ډنډونو اوبو ته تګ کوي. معموله په وچه کې د ژمي خوب کوي خو په جنوري کې هم بشپړ ودې ته رسېدلې په اوبو کې لیدل شوي. د ډول د غړو شمېر یې د غوبیزو د څر له امله، د بندونو د جوړونې له امله، د لندو ځمکو د ویجاړونې له امله کم شوی. له دې پرته سیمو ته د راکون د خپرېدو له امله او د سوداګرۍ لپاره د نیونې له امله هم کم شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اوماتو تریتون |



# د سوېل کربښې یا کړۍ لرونکی تریتون
# Southern banded newt

د ارمنستان په لوري ولایت کې، عراق، اردن، اسرایل، لبنان او سوریه کې پیدا کیږي. د ډول علمي نوم یې (Ommatotriton vittatus) دی. دوه فرعي ډولونه لري یو یې (O. v. vittatus) په ترکیه، اسرایل او سوریه کې پیدا کیږي او بل یې (O. v. ciliensis) یوازې په ترکیه کې دی. ښځه یې له نر کمه اندازه وړه وي. د ګرمو سیمو د ځنګلونو او څرځیانو د اوبو په مختلف ډوله تنو کې ژوند کوي. په داسې اوبو کې ژوند خوښوي چې تېزابیت یې له ۷.۵ تر ۸ پورې او تودوخه یې له ۸.۷ تر ۱۴ درجو پورې وي .

د پسرلي له پیل څخه د اوړي پیل پورې د مثل تولید کوي. د مثل د تولید پرمهال کمو ژورو ورو بهېدونکو اوبو ته ځي. که چېرې اوبو کې واښه او بوټي نه وي نو بیا اوبو کې تیرې یا لرګي لټوي تر څو خپلې هګۍ پکې واچوي. په دې مودې کې یې نر د ښځې د جذب کولو لپاره په ملا کې تاج ته ورده ورکوي او روښانه رنګ پیدا کوي. نر یې د مثل د تولید لپاره سیمه ټاکي او خپلې ټاکلې سیمه کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل نر برید کوي. ښځه یې د مختلفو نرانو سپرم په خپل مقعد کې مني. د هګیو القاح یې داخل کې ترسره کیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | اوماتو تریتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاکي تریتون، پاشي تریتون یا پاچي تریتون
# Pachytriton

د تریتون نسل دی. د چین په سوېل ختیځ کې پیدا کیږي. ټول لس ډولونه پکې شامل دي. پایډل ته ورته لکۍ لرونکی تریتون او چینایي تریتون نومونه هم ورته اخلي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یورروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پاکي تریتون، پاشي تریتون یا پاچي تریتون |

| سیمه | سیاینسي نوم | انځور |
|---|---|---|
| د چین ګوانګډونګ | '*Pachytriton airobranchiatus* | |
| د چین هیونان، جیانګسي، ګوانګډونګ | *Pachytriton archospotus* | |
| د چین سوېل | *Pachytriton brevipes* | |
| د چین ګوانګډونګ | *Pachytriton changi* | |
| د چین د هینان په سوېل کې | *Pachytriton feii* | |
| جېجیانګ | *Pachytriton granulosus* |  |
| د چین ګوانګسي، هیونان، ګوانګډونګ او ګویجو ولایتونه | *Pachytriton inexpectatus* | |
| د چین ګوانګسي | *Pachytriton moi* | |
| د چین په سوېل کې هیونان او ګوانګسي | *Pachytriton wuguanfui* | |
| د چین ګوانګډونګ او ګوانګسي | *Pachytriton xanthospilos* | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام نوم نه لري او په علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton archospotus
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون ډول دی. د چين په سوېل کې پيدا کيږي.

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton changi
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د چين په ګوانګډونګ کې پيدا کيږي.

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton feii
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د چين د هېنان په سوېل ختيځ کې او د انهوي په هوانګشن غرونو کې پيدا کيږي.

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton granulosus
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د چين په ژېژيانګ غرونو کې پيدا کيږي.

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton inexpectatus
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون ډول دی. د چين په سوېل کې په ګوېجو، هيونان، ګوانګډونګ او ګوانګسي ولايتونو کې پيدا کيږي. ډېرى خلک يې د کورني ژوي په توګه ساتي او له همدې امله سوداګريز ارزښت لري .

د ګوتو تر منځ يې وړه کمه څرګنده پرده موجوده وي. په ګېډه کې يې سور رنګه نارنجي نښانونه موجود وي. د غرونو په ويالو کې ژوند کوي. د شپې لخوا فعاليت کوي او د اوبو په حشرو ځان تغذيه کوي. د مثل توليد د اوړي په پيل کې کوي.

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton xanthospilos
په پاکي تريتون نسل کې د تريتون ډول دی. د چين په سوېل کې په ګوانګډونګ او ګوانګسي ولايتونو کې پيدا کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton moi
په پاکي تريتون نسل کي د تريتون ډول دی. اصلي ځای يې د چين په سوېل کې ګوانګسي ولايت دی .

عام نوم نه لري او په خپل علمي نوم پېژندل کيږي .
Pachytriton wuguanfui
په پاکي تريتون نسل کي د تريتون ډول دی. د چين په هيونان او ګوانګسي ولايتونو کې پيدا کيږي.

## خالداره پايډل ته ورته لکۍ لرونکی تريتون
## Spotted paddle-tail newt

د ډول علمي نوم يې (Pachytriton brevipes) دی. د چين په سوېل ختيځ کې دوه ژواکی تريتون دی. ساينسي نوم يې په ۱۸۷۶ کې ايښودل شوی. بې خالو پايډل ته ورته لکۍ لرونکي تريتون ته ورته والی لري. په لښتيو کې ژوند کوي او په خپله لکۍ لامبو وهي .

بې څوکې پڅ بدن لري. د نرم پوستکي لرونکي، اوبو کې ژوند کوونکي دي. غټ هوار شوي پلن سرونه لري. د دواړو پوستکي او سږو په ذريعه سا اخلي. د ملا رنګ يې له تېز نسواري تر چاکلېټ ته ورته پورې رنګ کې وي، په دې رنګ کې خالونه لري. د ګېډې رنګ يې له روښانه نسواري تر تور پورې امکان لري. د مثل توليد کوونکی نر يې ممکن په لکۍ کې نيله رنګ ته ورته روښانه رنګ پيدا کړي .

نران يې خپله سيمه ټاکي او خپلو سيمو کې په نورو بريد کوي. ښځې يې ډېر کم وخت بريد کوونکی چلند لري. په وړو کبانو، چونجيانو او حشرو ځان تغذيه کوي. په پاکو، رڼو او په اکسيجن غني اوبو کې ژوند کوي. اوس وخت کې يې شمېر د اوبو د ککړتيا له امله کم شوی. که چېرې يو په بل بريد وکړي او کمزوری يې له بريد سره مقاومت ونشي کړای نو موقتا له اوبو بهر تګ کوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | پاکي تريتون، پاشي تريتون يا پاچي تريتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پارامېزو تریتون
# Paramesotriton

عام نوم يې زخې لرونکې تریتون دی، د اسیايي زخې لرونکي تریتون په نوم هم یادېږي. د تریتون نسل دی. څوارلس ډولونه پکې شامل دي. په شمالي ویتنام کې او د چین په سوېل او سوېل لوېدیځ کې پیدا کیږي. د ډېرې ډولونو اصلي ځای يې چین دی. ځیني ډولونه يې د روانو اوبو په لښتیو کې او ځیني د ولاړو اوبو په ډنډونو کې ژوند کوي. ورسره نږدې تړاو لرونکی نسل لاوتریتون دی .

د ملا رنګ يې تېز نسواري وي. د پوستکي څرګوالی يې هر ډول کې توپیر لري له ډېر زیږ تر هوار پورې پوستکی لري. د هانګ کانګ زخې لرونکی تریتون يې زهري پوستکی او زهرجني هګۍ لري.

سایسنسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

د خالداره لکۍ زخې لرونکی تریتون
Spot-tailed warty newt
په پارامېزو تریتون نسل کې د تریتون ډول دی. د ډول سایسنسي نوم يې Paramesotriton)
(caudopunctatus دی. یوازې په مرکزي چین کې پیدا کیږي. د ژوند لپاره چاپېریال يې د معتدلو او نیمه معتدلو سیمو د ټيټو ځمکو لانده ځنګلونه او سیندونه دي. نر يې د ښځې پرتله اوږدوالي کې کمه اندازه لنډ وي.

سایسنسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

چينايي زخي لرونکی تريتون

Chinese warty newt

په پارامېزوتريتون نسل کې د تريتون ډول دی. د ډول ساينسي نوم يې Paramesotriton)
chinensis(دی. د چين په چونګ کينګ، هيونان، انهوي، ژېژيانګ، فوجيان، ګوانګډونګ او
ګوانګسي ولايتونو کې پيدا کيږي. په مرکزي چين کې هم شته دي. د ژوند لپاره چاپېريال يې د معتدلو
او نيمه معتدلو سيمو د ټيټو ځمکو لانده ځنګلونه او سيندونه دي. همداسې په داسې ډنډونو کې هم شته
وي کوم چې ګڼ واښه لري. نر له ښځې کمه اندازه لنډ وي. د ګړو شمېر يې د طبيعي چاپېريال د
ويجاړونې له امله کم شوی.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | پارا مېزو تريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټام ډاو سالاماندر
# Tam Dao salamander

په پارامېزوترېتون نسل کې د ترېتون یو ډول دی. د ویتنام سالاماندر په نوم هم یادېږي. د ډول ساینسي نوم يې (Paramesotriton deloustali) دی. د ژوند لپاره چاپېریال يې د معتدلو او نیمه معتدلو سیمو د ټیټو ځمکو لانده ځنګلونه او سیندونه دي. د ډول د غړو شمېر يې د غېرې قانوني ښکار له امله او د طبیعي چاپېریال د ویجاړونې له امله کم شوی.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو ترېتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

وانګاو زخې لرونکی تریتون
Wanggao warty newt
په پارامېزوتریتون نسل کې د تریتون ډول دی. د ډول ساینسي نوم یې (Paramesotriton fuzhongensis)دی. د چین د ګوانګسي ولایت په شمال ختیځ کې پیدا کېږي. د ټیټو ځمکو په وښنو پوښلو سیلابي ډنډونو کې ژوند کوي، د یادو سیمو په سیندونو او ویالو کې هم شته وي. همداسې د معتدلو او نیمه معتدلو سیمو د ټیټو ځمکو په لندو ځنګلونو کې هم پیدا کېږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

د ګوانګسي زخې لرونکی تریتون
Guangxi warty newt
په پارامېزوتریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د ډول علمي نوم یې (Paramesotriton guangxiensis)دی. د چین په ګوانګسي ولایت کې پیدا کېږي. د ژوند لپاره چاپېریال یې د معتدلو او نیمه معتدلو سیمو د ټیټو ځمکو لانده ځنګلونه او سیندونه دي. د ډول د غړو شمېر یې د طبیعي چاپېریال د ویجاړونې له امله کم شوی.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هانګ کانګ زخې لرونکی تریتون
# Hong Kong warty newt

د هانګ کانګ تریتون نوم هم ورته اخلي. په پارامېزو تریتون نسل کې د تریتون ډول دی. په هانګ کانګ کې پیدا کیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Paramesotriton hongkongensis) دی. د چین د ګوانګډونګ ولایت له سمندر غاړو سره نږدې سیمو کې هم پیدا کیږي.

که چېرې وګواښل شي نو ځان رغړوي او خپله ګېډه کې په روښانه نارنجي رنګ د زهرجنتوب پیغام لیږي او سملاسي یې بدن زهر ترشح کوي. نر یې د مثل د تولید پر مهال لکۍ کې روښانه نیله رنګ پیدا کوي. هګۍ په یو ځایي نه اچوي بلکې هره هګۍ له اچولو پس په اوبو کې په پاڼو پسې نښلوي. قانون یې ساتنه کوي او په هانګ کې یې نیول، لرل، ښکار کول جرم ګڼل کیږي .

په هانګ کانګ کې یوازینی پیدا کېدونکی یوروډېلا ژوی دی. ځیني مسلکي کسان یې د چینایي زخې لرونکي تریتون فرعي ډول ګڼي خو دواړه د ژوند لپاره مختلف ډول چاپېریال کې ژوند کوي، فزیکي ځانګړنې یې هم توپیر سره لري، د ژوند سیمې یې هم سره جلا دي او له همدې امله یې ځیني مسلکي کسان له فرعي ډول سره توافق نه کوي .

له روښانه تر تېز نسواري پورې رنګ کې وي. ګېډه کې نارنجي خالونه لري. د نارنجي رنګ جوړښت یې د انسان د ګوتو نښانونو ته ورته والی لري. سر یې مثلث ته ورته شکل کې وي. د څلورواړو پښو اوږدوالی یې سره برابر وي. د منګولو د ګوتو ترمنځ پرده نه لري. لکه د تریتون د نورو ډولونو په څېر د غاړې څنګونو کې برانشونه لري او کله یې چې بدن بدلون ترسره کړي برانشونه یې ورکیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پايډل ته ورته لکۍ لرونکی بې خالو تریتون

په سيمه کې په مختلفو عامو نومونو ياديږي : لکه د انترشتاين تريتون، پڅ بې څوکې بې خالو تريتون، بې خالو هوار زخې لرونکی تريتون، د ژاو اېرمي هوار زخې لرونکی تريتون، پايډل ته ورته لکۍ لرونکی تريتون. د ډول ساينسي نوم يې (Paramesotriton labiatus) دی .

هواره پراخه شوې تنه او پايډل ته ورته لکۍ لري. رنګ يې له روښانه نسواري، تېز نسواري تر تور پورې وي. ګېډه کې يې د نارنجي رنګ کرښې يا خالونه موجود وي. پوستکی يې ډېر نرم او ترشح کوونکی وي. لنډې پښې لري. د بوي او ليد په زريعه خواړه پيدا کوي. په کوم چاپېرياڵ کې چې ژوند کوي هلته يې خواړه ډېر کم پيدا کيږي او له همدې امله تر څو اونيو پورې بې خوړو ژوند تېروي خو که چېرې بند ځای کې وساتل شي بايد په دومداره توګه تغذيه شي. په وحشي چاپېرياڵ کې يې عمر تر اوسه نه دی مالوم خو په بند ساتل شوي ځای کې تر ۲۰ کالو پورې ژوند کولای شي .

د بل تريتون د پام جلبول د لکۍ په خوځښت کوي. بريد کوونکی چلند لري او که چېرې بل کوچنی تريتون پيدا کړي سملاسي يې خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | پارا مېزو تريتون |



عام نوم نه لري او په خپل ساينسي نوم پېژندل کيږي

Paramesotriton longliensis

په پارامېزوتريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. اصلي ځای يې د چين سوېل دی.

عام نوم نه لري او په خپل ساينسي نوم پېژندل کيږي

Paramesotriton zhijinensis

په پارامېزوتريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د چين په سوېل لوېديځ کې پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نو زخي لرونکی تریتون

Yunwu warty newt

مخکې يې عام نوم نه لره او په خپل ساينسي نوم پېژندل کېده خو اوسمهال پرې یو نو زخي لرونکی تریتون نوم ایښودل شوی. یو نو په چين کې د غرونو نوم دی. د ډول ساينسي نوم يې (Paramesotriton yunwuensis)دی. د چین په سوېل کې د ګوانګډونګ ولایت په یو نو غرونو کې پيدا کيږي.

عام نوم نه لري او په خپل ساينسي نوم پېژندل کيږي.

Paramesotriton maolanensis

په پارامېزو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د نسل تر ټولو نورو غړو زيات اوږد دی او اوږدوالی يې تر ۲۱ سانتي متره پورې رسيږي. د چين په ګويجو ولايت کې پيدا کيږي. د مطالعې لپاره نيول شوی ډول يې په ژور تالاب کې موندل شوی خو ممکن د ځمکې د تل په اوبو کې هم شته وي. سترګې د انځور جوړونکې نه دي. نرم پوستکی لري. د ملا رنګ يې تور نسواري وي. ګېډه يې نارنجي خالونه لري.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | پارا مېزو تریتون |

تيلوتوتریتون

Tylototriton

د ټولو ډولونو لپاره يې عام نوم کروکوډايل تریتون (crocodile newts) نوم کاريږي او د نسل ساينسي نوم يې تيلوتوتریتون دی. د موږې لرونکي تریتون (knobby newts) په نامه هم يادېږي (د پوستکي سطحه يې هواره نه ده نو ځکه موږې لرونکی تریتون نوم ورته اخلي). تر اوسه يې ۳۶ ډولونه پېژندل شوي. د هند له شمال ختيځ نيولې تر برما، شمالي تايلنډ، لاوس، ويتنام او د چين تر سوېل پورې سيمه کې پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تيلوتوتريتون |



د زاويه اي سر لرونکی تريتون
Angular-headed newt
د زاويه اي سر لرونکي کروکوډايل تريتون په نوم هم ياديږي. د ډول ساينسي نوم يې (Tylototriton anguliceps)دی. په تايلنډ، لاوس او ويتنام کې پيدا کيږي او ممکن د چين په سوېل او د برما په لوېديځ کې هم شته وي. په لاوس کې د تريتون له څلورو ډولونو يو دی. د بدن د رنګ له امله يې په اسانۍ له نورو ډولونو سره توپير کېدای شي .

د تيلوتو تريتون نسل ډولونه يوازې په اسيايي هېوادونو کې پيدا کيږي. مرکز يې ويتنام، لاوس او تايلنډ دی. تر ډېره د پراخو پاڼو په ځنګلونو کې وي. د ډبرو لاندې، د وروست شوي لرګي لاندې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو کې وي. لوند او ګڼ شين ځنګل کې پنا ځايونه خوښوي. په اوبو کې د ژوند پړاو په سيندونو او لښتيو کې تېروي. په سيمه کې د کال په اوږدو کې ډېر بارانونه کيږي او د ياد تريتون لپاره د ژوند مناسب چاپېريال رامنځته کولو کې مرسته کوي .

بدن يې تور نسواري او نارنجي رنګه زېړ وي. د مخکې لور منګولې يې څلور او د وروسته لور منګولو کې يې پنځه ګوتې وي. نر يې په تنه کې له ښځې کوچنی وي خو د بدن غړي يې بيا د ښځې په پرتله ځواکمن او څورب وي. د نر په پرتله يې د ښځې پوز اوږد وي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تيلوتوتريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

تور موږي لرونکی تریتون

Black knobby newt

د ډول ساينسي نوم يې (Tylototriton asperrimus) دی. په چين او وېتنام کې پيدا کيږي. د معتدلو او نيمه معتدلو سيمو، د ټيټو ځمکو په لندو ځنګلونو کې پيدا کيږي. د غرنيو سيمو د ځنګلونو په اوبو کې د ژوند يوه برخه تېروي. د بې کچې زياتې ځنګل وهنې له امله يې د ژوند لپاره چاپېريال ويجاړ شوی او دې چارې يې د نسل د غړو شمېر کم کړی. د تنې او لکۍ اوږدوالی يې له ۱۲ تر ۱۵ سانتي متره پورې رسيږي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تيلوتوتريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېنان موړې لرونکی تریتون

Hainan knobby newt

د ډول ساینسي نوم يې (Tylototriton hainanensis) دی. په تیلوتوتریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د چین په هېنان ټاپو کې پیدا کیږي. سره له دې چې د ژوند لپاره چاپېریال يې طبیعي ساتل شوې سیمه ده د انسانانو لخوا د کرنې لپاره د ځنګلونو وهلو او سېلانیانو يې د نسل د غړو کمېدو کې ونډه اخیستې. په وچه کې د غرنیو سوري لرونکو ځنګلونو د ونو د ریښو په سمڅو کې او د رژېدلو پاڼو لاندې ژوند کوي، د مثل تولید په اوبو کې کوي او موده يې د مې په میاشت کې وي. ښځه يې په تنه کې تر نر غټه وي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تیلوتوتریتون |

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم پېژندل کیږي .

Tylototriton himalayanus

په تیلوتو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د هند نیپال او بوتان په ځینو سیمو کې پیدا کیږي. په هند کې د تریتون له دوه ډولونو یو دی. ښځه يې په تنه کې له نرڅخه اوږده وي. سر يې بې څوکې او هګۍ ته ورته والی لري. په ملا کې ۱۶ زخو ته ورته موړې لري. د ملا رنګ يې له روښانه تر تېز نسواري پورې وي، د ګېډې رنګ يې کریمي رنګه وي.
د معتدلو سیمو په ځنګلونو کې د وریجو پټیو او ډنډونو سره نږدې پیدا کیږي. په اپرېل او مارچ کې د مثل تولید کوي. د کال لویه برخه په وچه کې تېروي او د ډبرو، بوټو او ستو لاندې پټیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تیلوتوتریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرې لکۍ موږې لرونکی تریتون
Red-tailed knobby newt
د کوېچاو کروکوډایل تریتون په نوم هم پېژندل کیږي. ساینسي نوم يې (Tylototriton kweichowensis)دی. د چین د ګوېجو ولایت پخوانۍ املا کوېچاو ده له کوم چې د یاد تریتون دوېم نوم اخیستل شوی.له امپراتور تریتون او د هیمالیا له تریتون سره نږدې تړاو لري .

ښځه يې په تنه کې له نر غټه وي. په ورو بهېدونکو لښتيو او ډنډونو کې د کال یوه برخه تېروي او همداسې په وچه کې د ژوند پړاو د غونډيو په هغو پېچوميو کې تېروي چېرې چې لانده وابنه زيات وي. اوبو ته يوازې د مثل د توليد پرمهال تګ کوي او د مثل د توليد موده يې د مې له پيل د جولای تر پيل پورې وي، تر ډېره د سيمې له موسمي بارانونو سره مل وي .

خواړه يې چونجيان، حشرې، لاروای ژوي او نور واړه د تریتون ډولونه دي. د چونګښو واړه بچيان هم خوري. ځينې خلک يې د کورني ژوي په توګه کورونو کې ساتي. که چېرې کور کې ساتل شوي وي نو د درې غړو لپاره له ۱۵ تر ۲۰ ګېلنو پورې اوبو ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تیلوتوتریتون |

## ایوانګن کروکوډایل تریتون
## Ywangan crocodile newt

د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton ngarsuensis) دی. په تیلوتوتریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. اصلي ځای یې د برما ایوانګن سیمه ده. لنډ شوی سر، ځورب بدن لري. د مثل تولید یې د نورو ډولونو په پرتله د کال پای لور کې وي. لکه د اسیا د تریتون د نورو ډلونو په څېر یې د نسل د غړو شمېر د درملو جوړولو لپاره د نیونې له امله کم شوی، همداسې د کورني ژوي په توګه د ساتنې لپاره هم نیول کیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تیلوتوتریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

امپراتور تریتون

Emperor newt

د ماندرین تریتون، ماندرین سلامېنډر په نومونو هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton shanjing)دی. بې کچې زیات زهرجن تریتون دی. د چین په سوېل کې پیدا کیږي. تر ۲۰ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. نارنجي سر لري او له سر یې د ملا په منځ کې د لکۍ لور ته نارنجي کرښه غزېدلې. د نارنجي کرښې په اوږدو کې یو بل لور ته نارنجي زخې لري. ټوله لکۍ او ټولې پښې یې هم نارنجي وي. په هر غړي کې یې د نارنجي رنګ روښانوالی او خیره والی توپیر لري .

د ورځې لخوا یې ښکاري ژوي د روښانه رنګ له امله په اسانۍ لیدلی شي خو د ورځې تر ډېره ارام کوي او د شپې لخوا فعال وي. همداسې په ملا کې یې نارنجي زخې زهرجن مرغړي دي او که چېرې له ګواښ سره مخ شي یاد مرغړي زهر ترشح کوي. یوازې یو غړی یې تر ۷۵۰۰ پورې مږې په خپلو زهرو وژلی شي خو په انسان یې زهر اغیز نه کوي. په ډنډونو او ورو روانو اوبو کې د مثل تولید کوي. خواړه یې چونجیان او ځیني حشرې دي. د کورنۍ ژوي په توګه هم کورونو کې ساتل کیږي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تیلوتوتریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیانګ مي کروکوډایل تریتون
Chiang Mai crocodile newt
د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton uyenoi) دی. د تایلنډ په چیانګ مي ولایت کې پیدا کیږي. مخکې د امپراتور تریتون غړي ګڼل کېدل خو اوسمهال جلا ډول ګڼل کیږي. د ساینسي نوم دوېمه کلیمه یې د دوه ژواکو د مطالعه کوونکي (Shun-ichi Ueno) له نوم اخیستل شوې. بدن یې تور رنګه نسواري او نارنجي رنګ کې وي. په ملا کې زخې لري. په حلزون او مختلف ډوله جوړه پښیو ځان تغذیه کوي. له مي تر جولای پورې د مثل تولید کوي.

د زیګلر کروکوډایل تریتون
Ziegler's crocodile newt
د زیګلر موړې لرونکي تریتون په نوم هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton ziegleri) دی. د وېتنام په شمال کې پیدا کیږي. ممکن د چین په سوېل کې هم شته وي. د جنتیکي مالوماتو له مخې له تور موړې لرونکي تریتون سره تړاو لري. عام نوم او د ډول د ساینسي نوم دوېمه کلیمه یې د جرمني د دوه ژواکو مطالعه کوونکي (Thomas Ziegler) له نوم اخیستل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېنکسين موږې لرونکی تريتون

Wenxian knobby newt

وېنکسين د چين په هېنان ولايت کې سيمه ده. يادې سيمه ته د وېن نوم هم اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Tylototriton wenxianensis) دی. د ملا رنګ يې تور او د ګېډې رنګ يې تور رنګه نسواري وي. د ګوتو سرونه او د لکۍ لاندې برخه يې نارنجي رنګ لري. د وېن په ځنګلونو کې پيدا کيږي. د مثل د توليد لپاره ډنډونو ته ځي. خپلې هګۍ په وچه کې يا د وچې او اوبو ترمنځ اچوي. لاروای بچيان يې په اوبو کې وده کوي. د ځنګل وهنې او فارمونو له امله يې د ژوند چاپېريال له ګواښ سره مخ دی او يادې چارې يې د ډول د غړو شمېر کم کړی.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تيلوتوتريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

وېتنامی کروکوډایل تریتون
Vietnamese crocodile newt
د وېتنامي موږې لرونکي تریتون په نوم هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton vietnamensis)دی. د بامبو بانس له ځنګلونو سره پیدا کیږي. ممکن چین او لاوس کې هم شته وي. د مالیکولي او جنتیکي مالوماتو له مخې د چین د هېنان موږې لرونکي تریتون سره نږدې تړاو لري. تر ۱۲ سانتي متره پورې اوږدوالی لري.

تیانان کروکوډایل تریتون
Tiannan crocodile newt
د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton yangi) دی. په تیلوتو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د چین د سوېل په یونان ولایت کې پیدا کیږي.

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم پېژندل کیږي .
Tylototriton shanorum
په تیلوتو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د برما په شان ایالت کې پیدا کیږي.

تالیانګ موږې لرونکی تریتون
Taliang knobby newt
د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton taliangensis) دی. په تیلوتو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د چین په سوېل لوېدیځ کې پیدا کیږي. په ګنو شنو لرونکو د درو په ځنګلونو کې ژوند کوي. د شولو پټیو او ډنډونو کې د مثل تولید کوي.

د نوک لېن کروکوډایل تریتون
Ngoc Linh crocodile newt
د ډول ساینسي نومی (Tylototriton ngoclinhensis) دی. د مرکزي وېتنام په لوړو سیمو کې پیدا کیږي. په لمړي ځل په ۲۰۱۸ کې موندل شوی او په ۲۰۲۳ کال کې د تریتون د ډول په توګه تشرېح شوی. د ژوند لپاره چاپېریال یې په ډېره کوچنۍ سیمه کې دی او له همدې یې د غرو شمېر د کمېدو له ګواښ سره مخ دی. د نوک لېن غرونو د اوبو له تنو سره نږدې په غرنیو ځنګلونو کې ژوند کوي. د بدن رنګ یې نارنجي او تور ته ورته نسواري وي.

د لاوس موږې لرونکی تریتون
Laos knobby newt
د سوېل کروکوډایل تریتون، خاموان کروکوډایل تریتون نومونه هم ورته اخلي. د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton notialis) دی. د مرکزي لاوس په خاموان ولایت کې پیدا کیږي. کوم چې وېتنام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پیدا دي مخکې د همدې ډول غړي ګڼل کېدل خو اوسمهال جلا ډول ګڼل کیږي او د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton thaiorum) اېښودل شوی. د موړې لرونکو تریتون ډولونو کې د جنتیکي مالوماتو له مخې له تور موړې لرونکي تریتون سره تړاو لري. اوږدوالی یې له ۱۱ تر ۱۴ سانتي متره پورې رسیږي.

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم پېژندل کیږي .
Tylototriton panhai
په تیلوتو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. په تایلنډ او لاوس کې پیدا کیږي. تر ۲۰۱۳ کال پورې د امپراتور تریتون د ډول غړي ګڼل کېدل خو اوسمهال د جلا ډول په توګه ډلبندي شوي. د ساینسي نوم دوېمه کلیمه (panhai) یې د تایلنډ بیولوجي پوه (Somsak Panha) له نوم اخیستل شوی.

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم یادیږي.
Tylototriton broadoridgus
د تریتون یو ډول دی او د چین د هیونان ولایت په غرونو کې پیدا کیږي.

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم یادیږي.
Tylototriton dabienicus
د تریتون یو ډول دی، په مرکزي چین کې پیدا کیږي. مخکې د وینکس موړې لرونکي تریتون فرعي ډول ګڼل کېده.

عام نوم نه لري او په خپل ساینسي نوم پېژندل کیږي.
Tylototriton pseudoverrucosus
په تیلوتوتریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د چین په سوېل کې پیدا کیږي.

د هېمالیا تریتون
Himalayan newt
سور موړې لرونکی تریتون نوم هم ورته اخیستل کیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Tylototriton verrucosus)دی. په سوېل ختیځې اسیا کې پیدا کیږي. تر ۲۰ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. خواړه یې لړمان، چونجیان، غنې او حلزون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تیلوتوتریتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوروډېلز
## Pleurodeles

د تریتون نسل دی. درې ډولونه پکې شامل دي. غړو ته يې عامه ژبه کې پوښتۍ لرونکي تریتون
نوم اخيستل کيږي. د ايبېرين ټاپوزمي تريتون يې تر ټولو عام دي او تر ډېره يې (ribbed newts)
ساينسپوهان هم د مختلفو موخو لپاره کاروي خو په وحشي چاپېريال کې يې نسل ډېر کم شوی. نور
دوه ډولونه يې په وحشي چاپېريال کې د ورکېدو له خطر سره مخ دي. د غړو د شمېر د کمېدو لاملونه
يې کرنه، ښار او ککړتيا ده.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| نسل | پلوروډېلز |

ډولونه

| سيمه | عام نوم | ساينسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| الجزاير او تونس | د الجزاير پوښتۍ لرونکی تريتون | *Pleurodeles nebulosus* |  |
| د الجزاير شمال ختيځ | اېډو پوښتۍ لرونکی تريتون | *Pleurodeles poireti* |  |
| د ايبېرين ټاپوزمي مرکز او سوېل، مراکش | ايبېرين پوښتۍ لرونکی تريتون | *Pleurodeles waltl* |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الجزاير پوښتۍ لرونکی تریتون
Algerian ribbed newt
د ډول ساینسي نوم یې (Pleurodeles nebulosus) دی. په تونس او الجزایر کې پیدا کیږي. په ډنډونو او وړو سیندونو کې د کال یوه برخه تېروي. اوږدوالی یې تر ۲۳ سانتي متره پورې رسیږي. ګرد شوی پوز، هوار سر، وړې سترګې لري. تنه یې پراخ شوی سور لري او د نر لکۍ یې د ښځې په پرتله اوږده وي. د ملا رنګ یې زیتونو ته ورته نسواري او د ګېډې زیړ رنګه خړ وي. ګېډه کې یې د تېز رنګ خاپونه موجود وي. د ملا پوستکی یې زیږوالی لري .

د الجزایر په شمال ختیځ کې او د تونس په لویدیځ سیمه کې پیدا کیږي. د تازه اوبو په مختلف ډوله ډنډونو کې د مثل تولید کوي. تر ټولو لوی ګواښ ورته د چاپېریال ککړتیا ده، دوېم ګام کې په لویه کچه طبیعي چاپېریال د کرنې لپاره کارول او د ژوند لپاره یې چاپېریال د ښارویو په څرولو ویجاړول دي .

مخکې یې د پوایرېټ تریتون سره توپیر نه وو شوی خو په ۲۰۰۴ کال کې کارانزا او وېډ دا وموندله چې له یاد ډول سره توپیر لري او د جلا ډول په توګه ډلبندي شول.

سایسنسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| نسل | پلوروډېلز |



(c) ketabton.com: The Digital Library

اېډو پوښتی لرونکی تریتون

Edough ribbed newt

د پوایرېټ تریتون نوم هم ورته اخلي. د ډول ساینسي نوم يې (Pleurodeles poireti) دی. په پلوروډېلز نسل کې د تریتون یو ډول دی. د الجزایر په شمال ختیځ کې، په اېډو غرونو کې پیدا کیږي. د تازه اوبو په سیندونو او ډنډونو کې ژوند کوي. مخکې د الجزایر پوښتی لرونکي تریتون ګڼل کېده خو وروسته ترې جلا شو.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| نسل | پلوروډېلز |



(c) ketabton.com: The Digital Library

ايبېرين پوښتۍ لرونکی تريتون

Iberian ribbed newt

هسپانوی پوښتۍ لرونکی تريتون نوم هم ورته اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Pleurodeles waltl دی. په ايبېرين ټاپوزمه او مراکش کې پيدا کيږي. د اروپا تر ټولو غټ تريتون ګڼل کيږي. د بوسکا تريتون ته هم ايبېرين تريتون نوم اخلي خو دواړه يو ډول نه دی. په څنګونو کې يې پوښتۍ د دفاع د ميکانېزم په توګه کار کوي خو انسان ته پرې کوم زيان نشي اړولی. د بدن په سطحه کې د زهرو ترشح کوونکي مرغړي لري. په وحشي چاپېريال کې يې اوږدوالی تر ۳۰ سانتي مترو پورې رسيږي خو په بند ساتل شوي ځای کې ډېر کم وخت تر ۲۰ سانتي متره پورې رسيږي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| نسل | پلوروډېلز |



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاوس زخي لرونکی تریتون

Laos warty newt

د ډول ساینسي نوم يې (Laotriton laoensis) دی. په لاوتریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د لاوس په شیانګ خوانګ ولایت کې پیدا کیږي. د معتدلو سیمو او نیمه معتدلو سیمو په ځنګلونو او سیندونو کې ژوند کوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | لاوتریتون |

اېکتیو سورا

Ichthyosaura

د تریتون نسل دی. د تریتون یو په اوسمهال کې له منځه تللی ډول او یو فوسیل ډول پکې شامل دی. اصلي ځای يې اروپا ده. د نسل د نوم "اېکتیو سورا "مانا يې په یونانی ژبه کې "کربوړی کب" ده. کوم چې د میوسین دورې فوسیل دی علمي نوم يې (Ichthyosaura randeckensis) دی او د دوېم ډول عام نوم يې الپين تریتون دی. دواړه ډولونه يې ګونوکوریک دي په دې مانا چې نر او ښځه لري. د مثل تولید يې د جنسي اړیکي له لارې کوه. د الپين تریتون مخکې تر ډېره وخته پورې په تریتوروس نسل کې ډلبندي شوی وو خو کله چې فوسیل ډول وموندل شو له مطالعه کېدو وروسته په ۲۰۰۴ کال کې له فوسیل ډول سره په جلا نسل کې ډلبندي شو.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اېکتیو سورا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام نوم نه لري او په خپل ساينسي نوم پېژندل کيږي .

Ichthyosaura randeckensis

د ميوسين دورې د تريتون فوسيل ډول دی او په جرمني کې، په فوسيلي انبار کې موندل شوی. اوږدوالی يې تر ۴ سانتي متره پورې اټکل شوی. فيلو جنتيک مالوماتو موندلې چې له الپين تريتون سره نږدې تړاو لري خو ځينې دا مالومات نه تايدوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اېکتيو سورا |

الپين تريتون

Alpine newt

د ډول ساينسي نوم يې (Ichthyosaura alpestris) دی. د اروپا تريتون دی او يو وخت يې نسل انګلستان او نيوزلنډ ته هم انتقال شوی وو. بشپړ ودې ته رسېدلی يې له ۷ تر ۱۲ سانتي متره پورې وي. د ملا رنګ يې له خړ تر نيله پورې وي او د ګېډې رنګ يې نارنجي وي. د نر رنګ يې د ښځې په پرتله ډېر روښانه وي په ځانګړې توګه د مثل د توليد په موده کې. اوسمهال يې د ډول غړي له منځه تللي خو مخکې د سمندر له سطحې په دواړو لوړو او ټيټو سيمو کې شته وو .

د کال ډېر وخت په ځنګل کې تېروي، يوازې د مثل د توليد لپاره ډنډونو ته تګ کوي. له القاح وروسته ښځه هګۍ اچوي او خپله هره هګۍ د اوبو د بوټو په پاڼو پسې نښلوي. لاروای بچيان يې په اوبو کې تر ۵ سانتي متره پورې وده کوي او له دې مودې وروسته يې بدن بدلون مومي او د واړه تريتون په شکل کې په وچه کې ژوند پيل کوي. ځينې وخت تر بشپړ ودې پورې هم خپل برانشونه لري او بدن يې بدلون ځنډوي. په وړو بې شمزيو ځان تغذيه کوي خو خپله هم د کبانو، مارانو او مرغانو خواړه دي .

نسل يې ۲۰ ميليونه کاله وړاندې رامنځته شوی او ډېری مسلکي کسان ګمان کوي چې څلور فرعي ډولونه لري خو ټول پرې اتفاق نه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعي ډولونه

I. a. alpestris

I. a. apuana

I. a. cyreni

I. a. veluchiensis

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوكاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | كورډاټا |
| كلاس | دوه ژواكي |
| ډله | يوروډېلا |
| كورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي كورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اېكتيو سورا |



(c) ketabton.com: The Digital Library

ایکینو تریتون

Echinotriton

د انګرېزي نوم تلفظ يې اېکاینو ترېټون دی او لاتیني تلفظ سره توپير لري. د تریتون نسل دی ټول درې ډولونه پکې شامل دي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | ایکینو تریتون |

| **سیمه** | **ساینسي نوم** | **انځور** |
|---|---|---|
| د جاپان ریوکیو ټاپو او د تایوان شمال | *Echinotriton andersoni* |  |
| د چين ژېجيانګ ولایت | *Echinotriton chinhaiensis* | |
| چين | *Echinotriton maxiquadratus* | |

د انډرسن کروکوډایل تریتون

Anderson's crocodile newt

د انډرسن تریتون، ریوکیو اغزن تریتون، د جاپان زخي لرونکی تریتون نومونه هم ورته اخیستل کیږي. د ډول ساینسي نوم يې (Echinotriton andersoni) دی. په ایکینو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. په جاپان کې پیدا کیږي مخکې په تایوان کې هم شته وو خو اوس ګمان کیږي چې تایوان کې له منځه تللي .

بې څوکې څورب تریتون دی. پراخ مثلث ته ورته سر لري. په څنګونو کې له ۱۲ تر ۱۵ پورې موړې ته ورته بهر وتلي مرغړې لري. د ملا رنګ يې تور یا تور ته ورته نسواري وي. یوازې د لکۍ لاندې برخه او د پښو تلي يې زېړ ته ورته نارنجي رنګ کې وي .

د ژوند لپاره طبیعي چاپېريال يې د پراخو پاڼو ځنګلونه دي کوم چې کال ۱۲ میاشتې شینوالی لري، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثل د تولید لپاره ډنډونو ته ځي. په غیرې قانوني توګه د کورني ژوي په توګه د ساتنې سوداګرۍ لپاره نیول کیږي او یادې چارې یې د غړو شمېر بې کچې زیات کم کړی دی.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | ایکینو تریتون |

چینهای اغزن تریتون

Chinhai spiny newt

د ډول ساینسي نوم یې (Echinotriton chinhaiensis) دی. په ایکینو تریتون نسل کې د تریتون یو ډول دی. د چین په ختیځ کې پیدا کیږي. د معتدلو سیمو په ځنګلونو او ډنډونو کې ژوند کوي. کوم چې بندو ځایونو کې ساتل شوي په ځند سره بشپړ ودې ته رسیږي او د ډېر عمر کوونکي دي. په ۱۰ کلنۍ کې جنسي بلوغ ته رسیږي او تر ۲۰ کلونو پورې ژوندي پاتې کېدای شي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | ایکینو تریتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریچا

Taricha

د تریتون نسل دی. بې کچې زیات زهرجن څلور ډولونه پکې شامل دي. په عامه ژبه کې ورته د ارام سمندر تریتون نوم اخلي، ځینې خلک یې د لوېدیځ تریتون په نوم هم یادوي. څلور واړه ډولونه یې د ارام سمندر سیمه کې د الاساکا له سوېل تر د کلیفورنیا سوېل پورې پیدا کیږي.

دوه ډولونه یې چې یو یې د کلیفورنیا تریتون دی او بل یې د زیږ پوستکي تریتون دی ډېر سره ورته والی لري او له یو بل سره یې توپیر کول اسانه چاره نه ده. د دواړو ډولونو ملا نسواري رنګ کې وي، د ګېډې رنګ یې له زیړ تر نارنجي پورې وي. د دواړو د پوستکي سطحه زیږه وي. د بدن اوږدوالی یې تر اته انچه پورې رسیږي. د کلیفورنیا تریتون غټې سترګې لري او سترګې یې چوغې وي خو د زیږ پوستکي لرونکي تریتون سترګې وړې او پراخې پرانیستې وي. د زیږ پوستکي لرونکي تریتون پاسني غاښونه V ته ورته شکل کې وي خو د کلیفورنیا د تریتون پاسني غاښونه Y ته ورته شکل لري.

د سور ګېډي تریتون د تنې پاسه برخه نسواري وي، د ګېډې رنګ یې سور وي. د بدن اوږدوالی یې تر ۷ انچه پورې رسیږي. له نورو سره یوازې د بدن په رنګ کې توپیر نه لري بلکې د سترګو رنګ یې هم له نورو بدل دی. د نر پوستکی یې د مثل د تولید په موده کې نرمیږي او لکۍ کې یې پراخوالی رامنځته کیږي.

د تاریچا نسل د ټولو ډولونو خواړه واړه بې شمزي دي خو غټان یې کله نا کله په کبانو او د دوه ژواکو په هګیو هم ځان تغذیه کوي. که چېرې ښکاري ژوي برید پرې وکړي نو سملاسي د ګېډې سور یا نارنجي رنګ ورته ښې کوم چې د زهرجن بدن لرلو سګنال دی. ټول ډولونه یې تقریبا د شپې لخوا فعالیت کوي، ډېر وخت په اوبو کې تېروي. د مثل د تولید لپاره اوبو ته ځي. لاروای بچیان یې چې کله اوبو کې وده وکړي او بدن یې بدلون ومومي د کوچني تریتون یا اېفټ په توګه په وچه کې ژوند پیل کوي خو کله چې بشپړ ودې ته ورسیږي د مثل د تولید لپاره بېرته اوبو ته ځي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تاریچا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| سیمه | عام نوم | ساینسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| د متحده ایالتونو د لویدیځ سمندرغاړه کې، له سوېل تر سانټیا کروز پورې او له شمال تر الاسکا پورې | د زیږ پوستکي تریتون | *Taricha granulosa* |  |
| د کلیفورنیا شمال | سور ګېډی تریتون | *Taricha rivularis* |  |
| سیرا نوېډا | سیرا تریتون | *Taricha sierrae* |  |
| کلیفورنیا او سیرا نوېډا | د کلیفورنیا تریتون | *Taricha torosa* |  |

د زیږ پوستکي تریتون

Rough-skinned newt

د ډول ساینسي نوم یې (Taricha granulosa) دی. په شمالي امریکا کې د تریتون ډول دی. پوستکی یې د زهرو ترشح کوونکي مرغېږي لري. ګرد شوی پوز لري، بدن د زیتونو رنګ نه نیولې تر خړ رنګه تور پورې وي. د بدن د لاندې برخې رنګ یې له زیړ رنګه تر نارنجي پورې وي. پوستکی یې زیږوالی لري خو د مثل تولید په موده کې یې د نر پوستکی نرموالی پیدا کوي. له لکۍ سره یې ټول اوږدوالی له ۱۱ تر ۱۸ سانتي متره پورې رسیږي. د مثل د تولید موده کې یې د نر او ښځې توپیر په ګېډه د پړسېدلو نرمیو شکل باندې کېدلای شي.

که چېرې یې زهر د انسان بدن ته تذریق شي نو انسان وژلی شي. که چېرې یاد تریتون په لاس کې واخلي او له مینځلو پرته لاس په سترګو یا خوله کې ووهي نو زهر یې اغیز پرې کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تاريچا |



(c) ketabton.com: The Digital Library

سور ګېډی تریتون

Red-bellied newt

د ډول ساینسي نوم یې (Taricha rivularis) دی. په کلیفورنیا کې پیدا کیږي. د کال لویه برخه په وچه کې تېروي. د بشپړ ودې ته رسېدلي اوږدوالی یې له لکۍ سره تر ۷.۵ انچه پورې وي. زیږ پوستکی لري. د ملا رنګ یې تور ته ورته نسواري او د ګېډې سور رنګ وي .

لاروای بچیان یې خپل ژوند په اوبو کې پیل کوي. له څلور تر شپږو میاشتو پورې موده کې یې بدن بدلون مومي او په واړه تریتون بدلیږي. له بدلون موندلو وروسته په وچه کې د اېفټ په توګه ژوند پیل کوي. له څلور تر شپږو کلونو پورې موده کې جنسي بلوغ ته رسیږي. له ۲۰ تر ۳۰ کالو پورې ژوند کولای شي .

کوم نران یې چې جنسي بلوغ ته رسېدلي وي په جنوري یا فبروري کې اوبو ته ځي او دوه یا درې اونۍ پس یې ښځې هم ورسره یو ځای کیږي او له دې وروسته جنسي اړیکه نیسي. خپلې هګۍ په تېزو بهېدونکو یا د ډبرو لرونکو روانو اوبو په سیندونو کې اچوي. هګۍ د اوبو په تل کې په ډبرو، ریښو او څانګو پسې نښلوي. نران یې له ښځو سره هر کال د مثل تولید کې ونډه اخلي خو برعکس ښځې یې هر کال د مثل تولید نه کوي .

هر کال د سیند یا نهرونو همغې برخې ته ځي چېرې یې چې تېرو کلونو کې د مثل تولید کړی وي او همداسې یې د موندلو وړتیا هم لري .

له ښکاري ژو د ځان ېټولو لپاره لمړی خپل تور رنګه نسواري رنګ کاروي تر څو ونه لیدل شي خو که چېرې یې نور ژوي پیدا کړي او ویې ګواښي نو سملاسي خپل سر او لکۍ پورته کوي تر څو خپل سور رنګ ورته وښي او د خپل بدن د زهرجنتوب سګنال ورکړي. بدن یې کافي اندازه نیورو ټوکسین ټېټرو ډو ټوکسین زهر ترشح کوي، همداسې یې واړه بچیان او هګۍ هم زهرجن وي او په خپلو زهرو کولای شي د انسان ژوند هم وګواښي. همداسې یو تریتون کولای شي په خپلو زهرو له ۱۲۰۰ تر ۲۵۰۰ پورې مږې ووژني. یوازې د مارانو یو څو ډولونه یې له زهرو سره مقاومت لري او په سور ګېډي تریتون خپل ځان تغذیه کوي. که چېرې یې د بدن یوه برخه پرې شي بېرته وده کوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | تاریچا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیرا تریتون

Sierra newt

د ډول ساینسي نوم یې (Taricha sierrae) دی. د متحده ایالتونو په سیرا ناوېډا کې پیدا کیږي.
پوستکی یې زهر ترشح کوي. اوږدوالی یې له ۱۳ تر ۲۰ سانتي متره پورې رسیږي. د زیږ پوستکي
تریتون په پرتله زیات وچ چاپېریال خوښوي. یوازې د مثل د تولید لپاره بېرته اوبو ته تګ کوي او د
کال نوره موده په وچه کې تېروي. په وچه کې تر ډېره د ونو او ډبرو په غارونو کې پټیږي. خواړه
یې مختلف ډوله حشرې، چونجیان، د کبانو هګۍ او واړه حلزون دي .

د جنوري او فبروري تر منځ بېرته اوبو ته ځي. خپلې هګۍ د غنچې شکل کې کوي او په یوه غنچه
کې له ۵ تر ۳۰ پورې هګۍ موجودې وي. په ورو بهېدونکو اوبو کې خپلې هګۍ په ریښو، څانګو او
ډبرو پسې نښلوي. د مثل د تولید په ټوله موده کې په اوبو کې پاتې کیږي. د اوړي په پیل کې یې له
هګیو لاروای بچیان پیدا کیږي خو پیدا کېدل یې له تودوخې سره هم تړاو لري معمولا له ۱۴ تر ۵۲
ورځو پورې موده کې هګۍ په لاروای بدلیږي. لاروای بچیان یې په اسانۍ په اوبو کې نشي پیدا
کېدلای او لامل یې د اوبو په تل کې له شګو سره نږدې پاتې کېدل دي. د اوړي تر پای او مني تر پیل
پورې یې بدن بدلون مومي. له بدلون موندلو وروسته وچې ته تګ کوي او له ۵ تر ۸ کالو پورې وچه
کې ژوند ته ادامه ورکوي او جنسي بلوغ ته له رسېدو وروسته د مثل د تولید لپاره بېرته اوبو ته تګ
کوي .
پوستکی یې نیورو توکسین تېترو ډو توکسین ترشح کوي. زهر یې که چېرې د انسان بدن ته تذریق
شي انسان وژلی شي همداسې که چېرې یاد تریتون په لاس کې واخلې او له لاس مینځلو پرته لاس په
سترګو یا خوله کې لاس ووهي اغیز پرې کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تاريچا |



د کليفورنيا تريتون
California newt
دنارنجي ګېډې تريتون نوم هم ورته اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Taricha torosa) دی. د متحده ايالتونو په کليفورنيا کې پيدا کيږي. تر ۲۰ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. پوستکی يې ټېټرو ډو ټوکسين زهر ترشح کوي. پوستکی يې زيږوالی لري. د ملا رنګ يې خړ سليټي او د ګېډې رنګ يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زېړ رنګه نارنجي وي. د زېړ پوستکي تريتون ته ډېر ورته والی لري. د ډسمبر او مي مياشت ترمنځ د مثل توليد کوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | تاريچا |



کالو تريتون

Calotriton

د اروپا د لښتيو تريتون نوم هم ورته اخلي. د تريتون نسل دی. دوه ډولونه پکې شامل دي. د پيرينې غرونو او مرکزي کتلونيا کې پيدا کيږي. مخکې په اوپروکتوس نسل کې ډلبندي وو خو په ۲۰۰۵ کې په کالو تريتون نسل کې ډلبندي شول. د اوپروکتوس په پرتله له تريتوروس نسل سره زيات نږدې تړاو لري. تر ۶.۶ انچه پورې اوږدوالی لري. د مخکينۍ پښو ګوتې يې څلور او د ورستيو پنځه وي. په ملا کې يې تاج وده نه کوي. سږي يې ډېر واړه او يا نشته وي .

ګمان کيږي چې ۸ ميليونه کاله مخکې له تريتوروس نسل رامنځته شوي دي. د غرني چاپېريال له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې بدن له چټکې منډې سره تطابق پيدا کړی، ياد چاپېريال په اکسيجن غني دی او ممکن له همدې امله يې فزيکي ورته والی ډېر اوپروکتوس ته شوی وي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | کالو تريتون |

| سيمه | عام نوم | ساينسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| د هسپانيا د شمال ختيځ د کتلونيا په مونټ سيني غرونو کې | د مونټ سيني د لښتيو تريتون | *Calotriton arnoldi* |  |
| په فرانسه او هسپانيا کې د پيريني غرونه | د پيريني د لښتيو تريتون | *Calotriton asper* |  |

د پيريني د لښتيو تريتون
Pyrenean brook salamander
د ډول ساينسي نوم يې (Calotriton asper) دی. په کالو تريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د فرانسې او هسپانيا ترمنځ د پيريني غرونو کې پيدا کيږي. تر ۱۶ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. لکۍ يې پراخه شوې وي. په پوستکي کې د زهرو ترشح کوونکي پاراټوايډ مرغړې نه لري. د ملا رنګ يې زيتونو ته ورته، خړ، تور او يا ختې ته ورته رنګ کې وي، د ملا په اوږدو کې د زېړ رنګ کرښه لري. د ګېډې يو بل څنګ کې د خيره رنګ خالونه لري او منځ يې زېړ، نارنجي او يا سور وي. د نر مقعد يې ګرد خو د ښځې مخروطي وي .

د ورځې او شپې دواړو لخوا فعاليت کولای شي. په اوړي کې تر ډېره په اوبو کې ژوند کوي. په وړو بې شمزيو او حشرو ځان تغذيه کوي خو خپله د کبانو خواړه دي. که چېرې د حشرو يا بل افت ضد توکي اوبو کې وي ډېر ژر حساسيت ورسره ښي ځکه چې ياد توکي يې پوستکی جذب او زخيره کوي .

که چېرې تودوخه ډېره زياته شي د اوړي خوب کوي. د ژمي خوب په وچه کې کوي او له ژمي پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پسرلي کې راڅرګنديږي. له جنسي اړيکې وروسته ښځه په څو اونيو کې له ۲۰ تر ۴۰ پورې هګۍ اچوي. خپلې هګۍ د اوبو تل کې په ډبرو پسې نښلوي. تقريبا له شپږ اونيو وروسته يې هګۍ په لاروای بچيانو بدليږي. بلوغ ته رسېدنه يې د سيمې له لوړوالي سره تړاو لري خو تقريبا په دوه کلونو کې يې نر بشپړ ودې ته رسيږي، ښځه يې د نر په پرتله ورو وده کوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | کالو تريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

د مونټ سېني د لښتيو تريتون

Montseny brook newt

د ډول ساينسي نوم يې (Calotriton arnoldi) دی. په کالو تريتون نسل کې د تريتون يو ډول دی. د هسپانيا په شمال ختيځ کې، د کتلونيا سيمې په مونټ سېني غرونو کې پيدا کيږي. مخکې په اوپروکتوس نسل کې ډلبندي شوی وو خو په ۲۰۰۵ کې له پراخې مطالعې وروسته په کالو تريتون کې ډلبندي شو. بدن يې هګۍ ته ورته ګردوالی لري. پراخ شوی سر لري. که چېرې په لاس کې واخيستل شي پوستکی يې شيدو ته ورته د بد بوی لرونکې او د حشرو وژونکې مايع ترشح کوي.

سانيسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | کالو تريتون |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوپروکتوس
## Euproctus

د تریتون نسل دی. دوه ډولونه پکې شامل دي. عام نوم يې د اروپا غرنی سالامانډر دی. د ایټالیا په سردینیا او کورسیکا ټاپوګانو کې پیدا کیږي. مخکې د پیرینې د لښتیو تریتون هم پکې شامل وو خو اوسمهال په کالو تریتون نسل کې ډلبندي شوی.

سایسني ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یورو ډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | اوپروکتوس |

| سیمه | عام نوم | ساینسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| کورسیکا | د کورسیکا د لښتیو سالامانډر | *Euproctus montanus* |  |
| د ایټالیا سردینیا | د سردینیا د لښتیو سالامانډر | *Euproctus platycephalus* |  |

## د سردینیا د لښتیو سالامېنډر
## Sardinian brook salamander

د سردینیا غرنی تریتون نوم هم ورته اخلي. د ډول ساینسي نوم یې (Euproctus platycephalus) دی. په اوپروکتوس نسل کې د تریتون یو ډول دی. تر ۱۵ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. نر یې تر ښځې کوچنی وي. د کورسیکا دلښتیو له سالامېنډر سره ورته دی خو تر یاد تریتون یې سر ډېر پراخ دی، همداسې یې غاړه ترې ډېر خالونه لري او پاراټوایډ مرغړې یې هم ترې واړه دي. لاندینۍ ژامه یې د پاسینۍ په پرتله لنډه وي. د پوستکي رنګونه یې زیتونو ته ورته، خړ، سور رنګه نسواري وي. د بدن په اوږدو کې یې اوږدې ژېړې یا نسواري کرښې موجودې وي. د ګېډې رنګ یې روښانه وي او منځ یې تور یا ژېړ خالونه لري .

په ژمي کې خوب کوي خو که چېرې تودوخه بې کچې زیاته وي اوړي کې هم د اوړي خوب کوي. جنسي اړیکه په اوبو کې نیسي. ډېر فعال نر یې ارامه ښځه په خوله کې نیسي او د جنسي اړیکې لپاره یې د خپلې خوښې سیمې ته وړي. په څو اونیو کې یې ښځه تر ۲۲۰ پورې هګۍ اچوي. خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هګۍ ممکن د شګې لاندې خښې کړي او یا یې د ډبرو ترمنځ جووړې شوې سمڅه کې پټوي. د لاروای بچیانو د بدن بدلون یې۶ تر ۱۵ میاشتو پورې موده کې ترسره کیږي. د بدن بدلون یې له تودوخې سره تړاو لري.

سانسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اوپروکتوس |



د کورسیکا د لښتیو سالامېنډر
Corsican brook salamander
د کورسیکا غرنۍ تریتون نوم هم ورته اخلي. د ډول ساينسي نوم يې (Euproctus montanus) دی .په اوپروکتوس نسل کې د تریتون یو ډول دی. د فرانسې په کورسیکا ټاپو کې پیدا کیږي. په ډبرو لرونکو لښتیو، چینو او سیندونو کې ژوند کوي. د سردینیا د لښتیو سالامېنډر سره نږدې تړاو لري. تر ۱۳ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. کله چې اوبو کې د ژوند پړاو ترسره کوي پوستکی یې نرم وي خو کله چې وچه کې ژوند پیل کړي پوستکی یې زیږوالی پیدا کوي. د بدن رنګ یې نسواري یا زیتونو ته ورته وي خو ځینې وخت دې رنګ کې نارنجي رنګ او سوروالی هم لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبږي يې ډېر واړه يا نشته وي، په داسې اوبو کې ژوند کوي چې کافي اکسيجن پکې وي. په خپل پوستکي د سا اخيستلو لپاره اکسيجن جذب کوي. کله چې اوبو کې د مثل توليد وکړي بېرته وچې ته ځي او همداسې د ژمي خوب هم په وچه کې کوي. خواړه يې واړه بې شمزي او حشرې دي. تر ۳۰ پورې هګۍ اچوي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | اوپروکتوس |



(c) ketabton.com: The Digital Library

نوتو فتالموس

Notophthalmus

د تریتون نسل دی. درې ډولونه پکې شامل دي. نوم يې د یونانۍ ژبې له (ὀφθαλμός) کلیمې اخیستل شوی، د یونانۍ کلیمې تلفظ اوفتالموس دی او مانا يې سترګه ده. په ختیځه امریکا کې پیدا کیږي. په فزیکي جوړښت کې د اروپا تریتوروس نسل ته ورته والی لري. نرم پوستکی لري او لکۍ يې پراخه شوې وي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | نوتو فتالموس |

| سیمه | عام نوم | ساینسي نوم | انځور |
|---|---|---|---|
| د مکسیکو شمال ختیځ او د تکزاس سوېل | د تورو خالونو لرونکی تریتون | *Notophthalmus meridionalis* |  |
| د جورجیا سوېل او مرکزي فلورېډا | کرښې لرونکی تریتون | *Notophthalmus perstriatus* |  |
| د شمالي امریکا ختیځ | د ختیځ تریتون | *Notophthalmus viridescens* |  |

د ختیځ تریتون

Eastern newt

د ډول ساینسي نوم يې (Notophthalmus viridescens) دی. د شمالي امریکا په ختیځ کې پیدا کیږي. بدن يې ټېټروډوټوکسین تولیدوي او له همدې امله يې بشپړ ودې ته رسېدلی کبان نشي ښکار کولی. تر ۱۵ کالو پورې عمر لري. تر ۱۳ سانتي پورې اوږدیږي. یوازې لاروای بچیان يې کبان او د تریتون نور ډولونه ښکار کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | نوتو فتالموس |



کربښي يا پراډې لرونکی تريتون

Striped newt

د ډول ساينسي نوم يې (Notophthalmus perstriatus) دی. د متحده ايالتونو په سوېل ختيځ کې پيدا کيږي. د ختيځ له تريتون سره نږدې تړاو لري. تر ۱۰ سانتي متره پورې اوږدوالی لري. د بدن رنګ يې زېړ رنګه شين، زيتونو ته ورته شين يا نسواري خړ وي. په ملا کې روښانه نارنجي يا د سور رنګ کربښې لري. د ګېډې رنګ يې زېړ وي او په ياد رنګ کې تور خالونه موجود وي.

ساينسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومين | يوکاريوټا |
| پاچايي | ژوي |
| فايلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | يوروډېلا |
| کورنۍ | سالامانډرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېليني |
| نسل | نوتو فتالموس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تورو خالو تریتون
Black-spotted newt
د تکزاس تریتون په نوم هم یادیږي. د ډول ساینسي نوم یې (Notophthalmus meridionalis) دی. دمکسیکو په شمال ختیځ او د متحده ایالتونو د تکزاس په سوېل کې پیدا کیږي. په ۲۰۲۲ کال کې یې د ډول غړي تر پخوا ډېر کم شوي وو. په نوتوفتالموس نسل کې تر نورو ډولونو اوږده دي. ښځه یې تر نر غټه وي. تر لس سانتي متره پورې اوږدوالی لري. د بدن رنګ یې زیتون ته ورته شین رنګ وي او په دې رنګ کې تور خالونه لري. د ګېډې رنګ یې زېړ وي.

په داسي اوبو کې ژوند خوښوي چې کمې ژورې وي او ګڼ واښه پکې وي. د ځمکې لاندې پټیږي. که چېرې تودوخه زیاته شي او اوبه وچې کړي نو د ډبرو او یا هم د خوسا شوې ګیا لاندې وي. د مثل تولید په باراني موسم کې کوي.

ساینسي ډلبندي

| | |
|---|---|
| ډومین | یوکاریوټا |
| پاچایي | ژوي |
| فایلم | کورډاټا |
| کلاس | دوه ژواکي |
| ډله | یوروډېلا |
| کورنۍ | سالاماندرېډای |
| فرعي کورنۍ | پلورو ډېلیني |
| نسل | نوتو فتالموس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**